# شګو کې مزل

عبدالهادي (باور)



Ketabton.com

کال ۱۳۹۶

شګو کې مزل

عبدالهادي (باور)

ه دود د سکور
د روږ و کور
لک او کروړ
سمه لکه اور



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شګوکي مزل

عبدالهادي (باور)

کال:..............................۱۳۹۶ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library




## دکتاب پېژندنه:

دکتاب نوم: شګوکې مزل

لیکوال: عبدالهادي (باور)

ډیزاین: نظیف الله (همدرد)

چاپ نېټه: ۱۳۹۶ لمریزکال

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه


د چاپ ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مطالبو لړلیک

شګوکې مزل ........................................ 1
سـریزه ........................................ 6
حمـــد........................................ 9
نعـــت ........................................ 10
د مینـې وفــا ........................................ 11
سـترافغـــان........................................ 12
پښتنـې نجـلـۍ........................................ 14
زړه کـې د آسیا........................................ 15
آزار مه وړه ........................................ 16
اسمـــانـه ........................................ 17
بل ته کړې سمې ........................................ 19
بـوره مـور ........................................ 20
بې لـه مشـــره ........................................ 21
ایمــان ........................................ 22
وطــنـه........................................ 23
همت لــرو ........................................ 25
کـهـکـشـان ........................................ 26
سـپـرلـی ........................................ 27
تـورې زلـفـې ........................................ 29
قــلـم د ذهــن ........................................ 30
هسکه ټیــټه ........................................ 31

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپينې اوښکې ........................................ 33
پښتانه ........................................ 34
تصور د اغيار ........................................ 35
ژوندګي د ملنګانو ........................................ 36
سبا نه راځي ........................................ 37
با ايمانه ده ........................................ 38
ګران وطنه ........................................ 39
شهيده ........................................ 41
سوله ........................................ 42
ترې پېژنم ........................................ 44
لاړې ........................................ 45
دستار د معارف ........................................ 46
کسوف ........................................ 47
دُر دانه ........................................ 48
اندېوخر ........................................ 50
حُسن د حسين ........................................ 51
خسوف ........................................ 52
ځمکه شوه شاړه ........................................ 53
تنهيږي اسمان ........................................ 54
خيالي نښتر ........................................ 55
د زړه انځور ........................................ 56
تابوت ........................................ 58

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حُسن بڼ ........................................ 60
سترقاتلان ........................................ 61
مه ژاړه ........................................ 62
طبيبه ........................................ 63
د فتنوکړی ........................................ 64
فساد ........................................ 65
مات زړه ........................................ 66
محصلين ........................................ 67
نوبهار ........................................ 68
تور توپان ........................................ 70
بيرغونه ........................................ 71
راډيوګانې ........................................ 73
ډغرې ........................................ 74
شپېلی ........................................ 75
د همکاری لاسونه ........................................ 76
ښيرا مه وړه ........................................ 77
سپين زړه ........................................ 78
ګرځم په هرکلي ........................................ 79
کپچه مار ........................................ 81
په علم ودان ........................................ 82
روژه ........................................ 84
دهقانه ........................................ 86

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼـا اخـلـم ........................................ 87
رنځ د جهـل ........................................ 88
غـمجن زړه ........................................ 90
پـه ځـمـکـه کـې ........................................ 91
خـوارځـپلـي حـقـيقـت ........................................ 92
ګُل جهـــان ........................................ 94
تـقــديـر ........................................ 95
نـاکس مُـطـرب ........................................ 96
عــلـم ........................................ 98
عيـــنکـې ........................................ 99
لـوی جنـت دی ........................................ 100
پـه جګـو غـرو ........................................ 101
ښوونـکـيـه ........................................ 102
کـرکـټ ........................................ 103
کــډه د هـيـلـو ........................................ 104
بـې نـمــازه ........................................ 105
پـه مــاتـم ويـنــم ........................................ 106
حـقـوق د ټـول بـشـر ........................................ 107
د غـره منـي خـبـرې ........................................ 109
رشـوت خـوره ........................................ 110
مـورې ........................................ 111
تـعـصـب ........................................ 112

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـورلـحـــد .......................................113
مړ لـه کـاره شوې...............................114
اخـــتــر.............................................116
وطــن .............................................117
لـوی ســرونـه ..................................118
ځـوان يـمـه.....................................119
پښـتـون ........................................ 120
کـونجـي...........................................121
هـوښـيـار وګــړي ...............................124
دردونـه ...........................................125
مستـي د ريـحـــان.............................126
درنــه ځــمـه....................................127
اې زمـــابـيـــرغـــه................................128
مـعـمـیٰ............................................130

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شګوکې مزل

دغه کتاب چې په (شګوکې مزل) ښکلی او هنري نوم ور باندې اېښودل شوی، د ښاغلي عبدالهادي باور د شعرونو لومړۍ ټولګه ده چې د نوموړي يو شمېر شعري ټوټې او غزلونه يې په خپلو پاڼو کې را اخيستې دي. له ټولو څخه د مخه قدرمن باور صيب ته د دې ټولګې د بشپړولو او چاپ ته د برابرولو له امله مبارکي وايم. دغه اثر د پښتو ادب په ځليدونکي آسمان کې يو داسې نوی ستوری دی چې د شوخو پلوشو په وربښمينه ژبه د شعر او ادب له مينه والو سره د زړه خواله کوي. همدارنګه د ښاغلي باور صيب هڅې د قدر وړ ګڼم چې خپل تيت پرک شعرونه يې په يوه ټولګه کې را غونډ کړي او خپل ولس ته يې د خپلو لوړو هيلو او ارمانونو په جامه کې ډالۍ کړي دي. د دې اثر شعرونه چې هر يو ځانګړی عنوان لري، د ښاغلي باور صيب د فکر زيږنده دي چې د بل هر سوله پال او دردېدلي افغان شاعر په څېر يې په خپلو هنري ليکنو کې ګران افغانستان ته د سولې د راتګ ارمان کړی، په جګړه او تاوتريخوالي يې بد ويلي، رواني ناودوې يې غندلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او افغانان يې يووالي، وروروګلوۍاو د تعليم په زېور سمبال کېدو ته را بللي دي. له بلې خوا په دې کې شک نشته چې کابو څلوېښت کاله زموږ ګران هېواد افغانستان د بې رحمه جګړو د اور په لمبو کې سوزي او د پرديو نظرياتو پر بنسټ له ورانکارو تحميلي جګړو او شخړو سره مخ دی. زما په اند د دې ټولو ناخوالو لومړۍ درجه مسووليت هغو پلورل شوو عناصرو او جنګي ډلو ته متوجه دی چې په افغانستان کې د سترې غميزې بنسټ اېښودونکي ګڼل کيږي، لا هم خپلو شومو اعمالو ته تر مختلفو عنوانونو لاندې دوام ورکوي او زموږ وګړي يې له سترې بدبختۍ سره مخ کړي دي. په دويمه درجه کې زموږ عام ولس مسووليت لري چې ټول په ګډه د سولې، يووالي، تعليم او پرمختګ تر چتر لاندې سره را ټول شي، جګړه مارو ته منفي ځواب ورکړي او خپل هېواد د روانو ستونزو، کړکو او بدبختيو له ګرداب څخه د نجات ساحل ته و باسي. د دې خبرې يادونه ضروري ده چې په نړۍکې هره ستونزه حل لري، د افغانستان ستونزه به هم هرو مرو حل کيږي او زموږ هېواد به له ورانيو څخه نجات ومومي. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان باید روانه کشاله په داسې توګه حل کړي چې زموږ د وګړو یووالی، عزت او د هېواد نېکمرغي او هر اړخیز پرمختګ پکې خوندي وي. په دې لاره کې هر دردېدلی او کړېدلی افغان هڅه کوي چې خپل ولس ته د مینې، سولې، یووالي، تعلیم او وروړګلوۍ پیغامونه و رسوي او افغانان د عامه پوهاوي له لارې د خپل هېواد آبادۍ او له روانو جګړو څخه د بیزارۍ په بهیر کې د ګډون لپاره و هڅوي. باور صیب چې په خپله شعري ټولګه کې کوم مطالب را غونډ کړي له هغو څخه په ډاګه څرګندېږي چې نوموړی د افغانستان د وګړو او ځوان کهول لپاره تعلیم غواړي، سوله غواړي، د نظام اساسي اصلاح غواړي، له هر ډول فساد سره مبارزه غواړي، یووالی غواړي او د هېواد آبادي، ترقي او پرمختګ یې ستره موخه ده. د باور صیب په شعرونو کې داسې مطالب هم موندل کیږي چې د افغانانو صفت پکې شوی دی چې دا ښه کار دی ځکه موږ په خپله ټولنه کې هرو مرو داسې ګلالي خلک لرو چې په حسنه صفاتو سمبال دي او باید د ښو یادونه یې و شي. زما په نظر زموږ د ټولنې شاعـــران او لیکوالان باید د ټولنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانو واقعیتونو په هینداره کې د خپل ولس د ښو او بدو یادونه وکړي، په دې برخه کې موازنه و ساتي . زما په اند اوسنی عصر د علم، پوهې، هنر، تخنیک او ټکنالوجۍ عصر دی او هغه ولسونه عزتمن، خوشحاله، نېکمرغه، درانه، مېړني او په خپل ځان بسیا دي چې پیاوړي سیاسي نظامونه لري، د سولې تر زرین چتر لاندې ژوند کوي، کلک یووالی لري، د پردیو د دسیسو ښکار نه ګرځي او د زمانې له غوښتنو سره سم یې خپل هېوادونه په سوله سمبال کړي دي. کاشکي افغانان په عمومي توګه داسې صفات خپل کړي چې د زمانې له غوښتنو او واقعیتونو سره سم خپل هېواد د نړۍ د پرمختګ په کاروان کې د سیالانو سیال کړي. د دې کتاب د شعر د هنري او ادبي برخې په جوړښت کې ما خپل نیمګړي نظریات له ګران باور صیب سره څو څلې په ځانګړې توګه شریک کړي دي او د خپل توان په اندازه مې د کتاب د منځپانګې د سمون او اشتباهاتو د مخنیوي په هکله له نوموړي سره مشترک کار کړی دی. نو نه غواړم چې د دې ټولګې په ادبي او هنري اړخ زیاتې خبرې وکړم خو قدرمن لیکوال ته مې مشوره دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې ټولګه کې د چاپ لپاره یوازې هغه شعري ټوټې خوښې کړي چې په غوره توګه چاپ شوې او په ادبي تول برابرې وي. زه خپلو خبرو ته په همدې ځای کې د پای ټکی ږدم، د لوی خدای (ج) له دربار څخه ښاغلي باور صیب ته د لا زیاتو او خوږو غزلونو د لیکلو توفیق غواړم او ګران لوستونکي په مینه، مینه د دې اثر د شعرونو لوستلو ته رابولم.

مننه

ګل آغا احمدي وردګ

۱۳۹۶ کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سـریزه

احســاس خــیالــونــه پــه لــوبېـــدا راولــي
ژونــدون ولــس تــه میـــنـــه صفـــا راولــي

مــســکــا د ښکـلـو شــونـډو پــه مـیـــنـه مـیـــنـه
ګـــل تـــه مـیـــنـــه زړه کــې، د بـــورا راولــي

دا چې هر انسان د احساساتو او جذباتو ځانګړې دنیا لري او کله چې د وخت او جامعې د ښکلاوو او بدرنګه تبجنو حالاتو او زبېږګیو مجموعه د سره شفق تر سیوري لاندې ننداره کوي نو د احساساتو او جذباتو دنیا ئې متأثره کېږي انسان مجبورېږي چې د دغو احساساتو او جذباتو د خیالي دنیا په سمندر کې لاهو شي. د ښکلاوو او بدرنګیو څخه ښکلې او بدرنګه خښتې را ټولې او د بدرنګه خښتو په تر پښو لاندې کولو سره د قلم هسک معمار ته یوه یوه ښکلې خښته په خیالي ګوتو د خولو په تویولو او زیار وېستلو سره دسوزنده لمر د وړانګو لاندې په پوره متانت، صبر او زغم سره لاس کې ورکړي او د دېوالچي د غښتلي اومضبوط مټ په ذریعه د هیلو یوه مرغوبه، دنګه او ښکلې ماڼۍ جوړه کړي اودغې د هیلو ماڼۍ ته د رسېدو لپاره سخت، پېچلی، ستونزمن او د کړاو نه ډک مزل ووهي ترڅو د خپلو هیلو د ماڼۍ ور په احتیاط اوخوښۍ پرانیځي.د هیلوماڼۍ ته د رسېدو لار کې ما هم خپل نیمګړی مزل(شګو کې مزل)د پخوانیو لارویانو په پله پیل کړ هیله ده چې د علم او ادب دمینه والو د توجه وړ وګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څه نه څه ادبي تنده ئې پرې ماته شي. او زموږ ځوانان نورهم دېته وهڅېږي چې د مزلونو د ادامې بهير ته د همت ملا وتړي او خپل قدمونه د هيلو د ايوان په لور ګړندي کړي ترڅو خپلې جامعې ته د خدمت جوګه شي او د جامعې او ټولنې د حالاتو د سم سمکي، سولې، عدالت او پرمختګ زمينې د برابرولو او مهيا کولو د انعکاس يوه سپېڅلې او صفا هېنداره جوړ شي، او د نوي نسل د فکري، اخلاقي ،اجتماعي ودې، پرمختګ او اصلاح موخې ته د رسېدو په لاره کې کوټلي، رغنده او مثبت ګامونه واخلي، او دا مظلوم ولس د الله(ج) په فضل او کرم د علم او پوهې په تدبير او برکت د بدبختيو، ناخوالو او کړاونو له کثيفو او ناولو منګولو نه خلاص کړي او د دې ماڼۍ د شنو ونو او ګلانو د يخ سيوري لاندې خپل ښېرازه ژوند د شنه اسمان په پرانيستې آزاده هوا کې د زرين لمر په روښانه پلوشو کې په آرام او راحت سره پيل کړي او په آسوده خاطر نَفَس وباسي او د ژوندانه او طبيعت له ښکلاوو څخه خوند او لذت واخلي.

په پای کې د ښاغلي ګل آغا (احمدي) صيب نه چې د علم او ادب په اسمان يو روڼ او ځلانده ستوری دی او ددې شعري ټولګې په اړوند ئې ما ته ښکلې ښکلې مشورې راکړي په ترتيب او تنظيم کې يې راسره پوره پوره همکاري او مرسته کړې او نظر يې پرې ليکلی دی، اوهم زما د دفتر له ځينو همکارانو څخه چې اکثره وخت ئې ماته د دې شعري ټولګې په ليکلو کې تشويقي مشورې راکړي د زړه له تله مننه کوم. همدا رنګه د آغلې بي بي اجانۍ حوا (عزيزي) نه چې اصلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ په یوه متدینه او روڼ انده کورنۍ کې زیږېدلې او اوس مهال د استرالیا هېواد د ملبورن په ښار کې د هجرت شپې سبا کوي او د دې شعري مجموعې مالي لګښت ئې په غاړه اخیستی او هم ئې زموږ زیاتو بېوزلو هېوادوالو ته وخت ناوخت د مرستې لاس ورکړی زیات مننندوی یم او د پاک الله(ج) نه ورته د اوږد عمر، اجر او ثواب غوښتنه کوم.

په درنښت

عبدالهادي (باور)

میدان ښار ـ میدان وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حمـــــد

ژاړي، زاري کـــوي دا ځمــــکــه، اسمـــــان
دا کـــاينــــات، غـــرونـه، ډاګـونـه پـرېشــــان

ټـول مـــوجـــودات کـــوي د عــجــز اقــــرار
ټـول امــن غـــواړي لـه خـــالــقـه سبحــان

ستـا سلطـنـت يـې قـبـول کـړی پـه ســـر
حـــيـران، حـــيران دي د نــړۍ پـاچـاهـــان

ستـا پـه ثنــــا کـې د مـــــومـــن مشــغـولا
تـه يـې مـــوجـــود پـه هـــر مـکــان، لا مکـــان

هـــر څـه دي ستــا پـه امــرلـويـه خدايـه(ج)
چـلـــــېږي ستـــا پــه اراده او فـــــرمـــــان

ستــا پـــه اوربـــــت، د ژونــدون راز تــړلــی
ځـمــکـه ژونـدۍ کـــا کــتـره کــتـره بـاران

مـــړه ګــلـبـوټـه تــر سپـيـنـو واورو لانـدې
پستــه وړمـه يـې د بهــــار کـــړي خــنـدان

(c) ketabton.com: The Digital Library



څانګې رنګينې په ګلونو شي ستا
ترې باسې څو رنګه مېوې په ښه شان

باوره شمېره نعمتونه د خدای(ج)
ورته پرانيځه دواړه سترګې، چشمان

***

## نعت

په نبيا نوکې چې ګل يې، هغه ته يې
د مومن په زړه چې تل يې، هغه ته يې

د تررمۍ په اسمان، له ورايه ښکارې
هغه ستوری چې ځل بل يې، هغه ته يې

لوړ مقام دې انسانيت ته ډالۍ کړی
چې غمخور د پردو، خپل يې، هغه ته يې

په جهان سپين تور، تور سپين نه شي منلی
سپين، تور ته چې په منل يې، هغه ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګــــوزاريــــږي د حــق غـېـشـي و بــاطـــــل تــه
چې مـعـمـــار د دې مـورچـــل يـې، هـغـه تـه يـې

دکـــاروان ســــــردار بـل نشــــتـه پـــه نــړۍ کــې
کـه ســردار پـــه جـهــــان ګـُـل يـې، هـغـه تـه يـې

دکـفـــــــــــارو شــــوم پـلانــونــه دې رســـوا کــړل
چې د سـپــيـنــــو زړو مـــنــزل يـې، هـغـه تـه يـې

د بــاور د خـــــــوبــــرويــانــو پـــه نـــړۍ کـــې
ټـينـګ د زړه چې پـه منګـول يـې، هـغـه تـه يـې

***

## د مـيـنـې وفــا

احـســاس خــيـالــونــه پـــه لــوبـېــدا راولـي
ژونــدون ولــس تـــه مـيـــنـــه صفــــا راولـي

مـسـکـا د ښکـلـوشـونډو پـــه مـيـنـه مـيـنـه
ګــــل تـــه مـيـــــنـه زړه کـې، د بــورا راولـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پتـنـګان لمـرکې ډيــوې لــيدلی نـه شي
ســتــرګــو تــه تــوره تيـــــاره رڼـا راولي

دا پـاڼـه، پـاڼـه غـــزل، لــه الـــم نــه ډک
زړه د پـږمـــان بـلــبـل پــه غـوغــا راولي

هغه چې ښکېل شو په دام د ښامـار زلفو
هــالــه رهـــا مـومـي چـــې مـوسـیٰ راولي

چې پاڅـي ګـله، لـه قـبـره نـوي خـيالات
دا زاړه قـــبـــر تـــه مـسـيحـــــا راولي

بــاوره! پــروانــې پــه شـمــعې کــړ ګــوزار
پــه ســـرو لـــمـــبو د ميـــنــې وفـــا راولي

***

## سـتـرافغـــــان

اســتــوګـــن د ام الـــــبـلاد يـمـه ما وپـېـژنـه
ګــرم سـنـګـر د لــوی جـهـــاد يـمـه ما وپـېـژنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په ګونډو کړل سکندر او مغول
زه د خوشحال بابا اولاد يمه ما وپېژنه

زه هرکلی کومه مرګ ته د خوشۍ په لېمو
د غيرتونو لوی هېواد يمه ما وپېژنه

د غلامۍ حلقې مې نه دي اچولي و پښوته
زه توره، ډال يمه، آزاد يمه ما وپېژنه

ما ته به نه ګورې رقيبه په خيرنو سترګو
په ننګ، ناموس ولاړ شمشاد يمه ما وپېژنه

زه مضبوط کېږمه غليمه ټکولو باندې
خصلت کې کلک لکه فولاد يمه ما وپېژنه

د يرغلګرو په سر ما دی لګولی ناتار
زه په تاريخ د وياړ کې ياد يمه ما وپېژنه

که پښتون يم که هزاره يم که تاجک باوره
د ستر افغان په نوم آباد يمه ما وپېژنه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتني نجلۍ

مه کړه له دين پرته نورې کيسې نجلۍ
پت او عزت کې اوسه پښتنې نجلۍ

ښه نښه د عزت د توکمونو يې
ستا په عزت به وياړي پرګنې نجلۍ

ټول ځان دې په حجاب سره ملبس کړه
کله چې له خپل کوره ته وتې نجلۍ

تا ته چې په سترونو کې منظوره وي
عزت کې سرلوړې شه ميلمنې نجلۍ

په اسلام کې د درنو حقوقو پېغلې
د غربي حقو مه کوه دعوې نجلۍ

انساني ژوند ته څه قدر په کې نشته
کورنۍ پکې ورانيږي درنې نجلۍ

د اسلام په دايره کې خوږې خورې
علم فرض په انسان دی مومنې نجلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مـــلالـې پـه څـــېــر اوسه غـــيـرتمـنې
سـنګـر سـاتـه د حـق، مـدافـعـې نجـلـۍ

مکـلـفه يـې خـورکـۍ پـه زده کـړو بـانـدې
مـور، پـلار دې هـلـې ځـلـې کـړي رڼـې نجـلـۍ

د دارينـــــو ســـود بـــه هــــالـــه شـي بـاوره!
پـه ښـه تعـليم چې شي سمبـال ټولې نجـلـۍ

***

## زړه کې د آسيا

افغــانــان زړه کـې د آســيـا لــري ځــای
مـېـلـمـانـه پـالـي پـه ډوډۍ او پـه چــای

هــرکـلـی يې کـړي پـه سترګـو پـه لـېمـو
چې ترې رخصت شي ورتـه وايي بای بای

يـرغلـګـر يـې پـرځـولـی پــه نـره
ور پيښ شـوی دی عــذاب پـه ګِــل او لای

(c) ketabton.com: The Digital Library



تښــتــېـدلــی د هـمــــــت لــــه ديــاره
لا تــــر اوســه يــې نـــارې دي چـې واې واې

چې تـاريـخ تېــر تــه نــه ګــوري بـاوره!
مـعـلـومـات بـه يې سطحي وي او بې پـاى

***

## آزار مه وړه

آزار مـه وړه ګــــلاليــه لــــه مــور مــوره
وېـره وکــړه د مـخـتــور لــه هـــره تـوره

له غفلـتـه به سودمن کـلـه څوک نـه شي
خدای(ج) دې ساتـه د نـادان د زور لـه زوره

نـر زمـری خو مــاتول په چوپه خـولـه کـا
بـد شغــال خلک خـبـرکـا لـور د لــوره

پـوروړی چې عــادت وي پـور بـه ورکــړي
ځـان سـاتـه د نـاديـده د پـورلـه پــوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نه علم، نه تقوا وي هغه چم کې
د نفاق غبرګې لګېږي کور له کوره

عاطفه د قرابت چې په کې نه وه
دښمني وي هغه ځای کې ورور له وروره

یو ځو ټکي خو باور درته بیان کړل
ښه اګاه شه، ځان خبرکړه نور له نوره

***

## اسمانه

مست شه اسمانه، کړه بارانونه
هر خوا زرغون کړه شنه، شنه فصلونه

ښکته کړه مینه په بارانونو
ساړه، ساړه کړه، دا سره اورونه

زموږ حالت دی اسمانه داسې
نشته پوښتنه، نه تپوسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تن ګلګون دی د وینو رنګ کې
بل کړي په وینو تجارتونه

څوک د غمونو په ژړا، ژاړي
څوک له خوښۍ ږدي رنګین خالونه

ځیني تباه شول هستي یې لاړه
ځینو لوټ کړي پردي مالونه

چا نذرانه کړ؛ ژوندون سبحان ته
څوک جهنم کې وهي ټالونه

د چا واده وي عصري هوټل کې
د چا بمبار شول وراوې، ودونه

دلته اسلام تش په یوه نوم دی
دلته نفاق دی، دلته جنګونه

باوره! څنګه به بقا مومو
چې دا مو ژوند وي، دا حالتونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بل ته کړې سمې

بل ته کړې سمې خپله په شا شوې
څنګه داعي شوې، څنګه ملا شوې

قول ، عمل خو لازم، ملزوم دي
ته بې عمله، ته برملا شوې

څه به اصلاح شي داسې چارواکي
ته چې په بدو، ښه مبتلا شوې

مفسدين وايي، فساد روان دی
څه رسوايي شوه، څه د خندا شوې

باوره قول او عمل ګوره
دا ستا خبرې رښتيا، رښتيا شوې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بـوره مـور

پـه هــر يـوه کــور کې بـوره مـور، لـه مـاتـمـه ژاړي
بـس د جــــګرو، بـس د وژلـــو لــه ســتـمـه ژاړي

زخـمـي زړګی يـې ټـکور نـه شـو د خـوښـۍ پـه شـېبـو
سولـه يــې ورکـه ده طـبـيـبـه لـه مـــرهــمـه ژاړي

نه يې عـلاج، نـه يې درمـل، نـه يې تـسـل شـوی دی
لــه بې تـاثـيــــره تـعـويـذونـو او لـه دمـه ژاړي

د ګـلابـونـو پـه رنـګ، رنـګ زامـن يـې ګـورتـه لاړل
د تـــور ښـــامـــار د ګـــوزارونـــو، او لــــړمـه ژاړي

خدايه(ج) دا څـرنګـه دنيـا دې کړه ومـوږ تـه پـېرزو
يـو پـه چـړچـوکې، بـل د خـپـل عـزيـز لـه غـمـه ژاړي

چـې پـه خـوړوکـې يـې تـرخـه زهـــر، زقـوم ورکـړي
مـور خـو بـاوره د سـاحــر طـبـيـب لــه چـمـه ژاړي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې له مشـــره

بــې لـــه مـشـــره کـــه ټـولـــنـــه، قـــام اوکـــور شـي
ټـول وګـــړي يـــې غـمـجـن يـا وريـــت پـــه اور شي

لـکـه خـښـــتـــې چـــې کــــږې وي پـــه دېـــوال کـــې
خـــود بـــه داســـې دېـــوالـــونـــه رانـســکـور شي

څـوک چـې قـــــدرو عـــــزت نـــه کـــا د مشــــرانــو
خوار بـه پـه ژونـدون وي پورتـه بـه پرې نـور شي

بـد نـصـيـب بـه يـې پـه خـولـه د پـشـۍ کـې ورکـا
چـې مـرغـۍ اخـتـه پـه جـنـګ او پـه پـېـغـور شي

ځـيـنـې مـــــل شـي د غـــاصـبـو ظـــالـمـــانـــو
پـه څـو شـپـوکـې بـيـا خـاونـد د زر او زور شي

څـوک چـې خـپـلـه ګـټـه وړانـدې لـه بـل بـولـي
تـرېـنـه جـوړ بـه غـټ خـايـن او رشـوت خـور شي

د عـــبـــرت اصــــــل پــه کـــار دی پـــه ژونـدون کــې
خدای(ج) تـه وړانـدې خـايـنـان بـه ټول مخـتـور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپل سود ګوري د نورو په خوښۍ کې
آفرين دې د باور، په پلار او مورشي

***

## ايمان

ايمان چې له ماوتاځي ولې ولې؟
چې په ظلم، ناروا ځي ولې، ولې؟

جنګ جګړه کول خوکار د ظالمانو
ناحق جنګ ته چې بيا، بيا ځي ولې ولې؟

حق تري پاتې د شيطان يې وي منلې
ټوپکمار په قصد د غلا ځي ولې ولې؟

ملګري او اشنايي شوه تر مطلبه
خپل ملګری چې په شا ځي ولې، ولې؟

د ايمان او عقيدې رنګ يې پيکه کړ
صداقت زموږ له خوا ځي ولې ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیــکـانـو مشــوره ورســـره نشـــته
پـه نـاقــص فـــکـر خطـــا ځـي ولـې ولـې؟

پـه وینـــا د فـــاسقـــانـو بـه عمـل کـړي
بــې تــاثیـــره شه وینـــا ځـي ولـې ولـې؟

د دې عـصرملګرتیـا کـې خـونـده نشـتـه
بـاور یـار مـې یــک تنهـــا ځـي ولـې ولـې؟

***

## وطـــنـه

مــیـن پښــتـون دی پــه تــا
زېـبـــا وطـــنـــه زېـبـــا

تـــه مـــو یــې مـېـــنـه اوکــور
تـــه مـــو زړګـــی او ټــکـور

تـه دنګ دنګ غــرونــه لــرې
ډک ډک ســـیـنـدونــه لـــرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمـــــان کې وريځې بـاران
پـرې زرغـون کـيـږي مـيدان

سُــــتـــره هـــوا لـــرې تــه
خـيـالـي فـضـــا لـــرې تــه

لمـــر دې څـه شغـلـې لـري
ښـکـلـې پـلـــوشـــې لـــري

شــــنـــې دې درې هـــېـواده
خـــوږې مـــېـوې هـــېـواده

مـــالـــيـار بـاغـونـه لـــري
خـــوا ږه تـاکــــونـه لـــري

مـــېـوې دي ســتـا نـامــدارې
مـنـې دي ســتـا خـــالــدارې

مـــرغـــــان اوازکـــوي ســتـــا
بـــازان پـــــروازکـــوي ســتـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنه څرځايونه لري
څاروي، مالونه لري

ته ښايسته په ګل يې
ته آراسته په ګل يې

باور دې غواړي آباد
افغانستان په زړه ښاد

***

## همت لرو

مور، پښتانه يو بې پښتو چېرې بل کار نه کوو
همت لرو، په نامردۍ د چا آزار نه کوو

وطن مو شمعه مور يې واړه پتنګان يو ګله
په لمبو سوي، د غليم له اور نه ډار نه کوو

مور، د بري تصميم نيولی شو، بريمن يو روان
پروا په دې لارکې د هيڅ غليم، اغيار نه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـوږ يـو سـرلـوړي د پـوهـنې او د سـولـې لارکې
مـوږ پرمـخـتـګ غواړو، ټوپکو باندې وارنـه کوو

مـوږ پـه پښـتـو سـره را نيـسو د ښکلاوو څـانـګـې
مـوږ شـوونځـيو تـه پـه تـلـوکـې انـتـظـارنـه کوو

موږ به پرمټ د خپلو هڅو وړاندې درومو درومو
مـوږ بـه پـروا پـه دغـه لارکـې د ښـامـارنـه کوو

د ګـاونـډي حـقـه حـقـوق ورتـه پـوره ورکـوو
موږ خـو غـرض د چـا پـه کـور او پـه دېـوارنـه کوو

مـوږ د بـري لار تـه بـاوره پـه اغـزو مـزل کـړو
مـيـنـه د ګـل کوو، پـروا د هېڅ يـو خـار نـه کوو

***

## کهکشان

پاس پـه اسمـان کـې څـه کـهـکـشـا نـونـه دي
دا سـتـوري يـې واړه، رڼـه مـېـخـونـه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسمـــــان لمـــــنه ډکـــه پـــه ســـتـــورو ده
د نـخـــــــاوو جهـــــــان، ورا او ودونـــه دي

لـکـه پــه غـــاړه چـې لـــيـلـئ هـــــار واچـوي
د مـلـــغـــــلـرو پــه چـــــم، امــېـلـونـه دي

ســــاتــه افغـــان يـاره د امـــــيـدو ښـــکـلا
ډک لـــه ښـــــکلا د ژونـــدون امــيـدونـه دي

بـاوره ګــوره نظـــــام د رب(ج) سـپـېـخـلـى
چې لــه حـکـمـتـه؛ ډک يـې څـه کــارونـه دي

***

# ســپـرلـى

پـه بـڼ کـې مـو خـنـدا کـړي سـره ګـلـونـه د سـپـرلـي
اچـــولـــــي دي بـــورا اتڼــــــونـه د سـپـرلـي

شـنـه، زرغـون کـــتـل دي هــره خـوا پـه هــره سـيـمـه
زېبـــا، زېبــا ښـکـاريـږي شـنـه مخـونـه د سـپـرلـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېره ډاګونه فرش شول د ګلونو په سينګار
اسمان پرې را خواره کړه بارا نونه د سپرلي

مشاطې شوې سمسورې د ګلونو په نګار
په زلفو يې خواره شول شنه شالونه د سپرلي

د نجونو وربلونه په ګلو مالامال شول
ګودر ته بيا روان شول کتارونه د سپرلي

د بلبل نغمو خمار کړه د ګلزار رنګونه
پستې، پستې ورمې دي اوازونه د سپرلي

غر د شپېلۍ پورته شو په دښته او دمن کې
شپونکي په مخه کړي دي مالونه د سپرلي

عاشق په مينه کې معشوقې ته کړي رازونه
ښايست، ښايست جانان دی جهانونه د سپرلي

سپيره خزان تېر شوی باوره په محل کې
د خدای(ج) په شکر ښکل کړه ديدنونه د سپرلي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تــورې زلـفې

پـه سپـیـن مـخ دې چې تورې زلـفې راتـلـلـې
غـــم زمـــا پـــه تنـــدي خـــاورې اړولـې

زه هـغـه وخــت اګــاه شــوم چــې زمــا نـه یــې
چــې شـــانـه زلـــفــې دې شـــاتـه واچـولـې

سـتـا د زلــفـو پـه تــار بنـــد زمـــا زړګــی دی
بیـــا بــه کـــلـه راســتــــنـه شې نــازولـې

هــر یـو ګـــل د اننـــګـو لــه رنــګه رنــګ شـو
چــې د ګـــلــو پــه بــاغــونــو ګـــرځـــېدلـې

خدای(ج) خــبــر چې زمـــا غــم بــه درسـره وي
دا خـــــــــبـرې مــې زړګــي راتـــه ویـــلـې

د بېــلـــتـون پــه اور بــه ســوزمــه تـر کـــله؟
ډېـر ارمــان دی مــا پــه سـتـرګـو نـه لـیـدلـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وصـــال پـــه فلــک پــړک وهــه بــرېښــنـا شــه
بېلـــــــتانـــه د بـــاور ســــتــرګـــې ژړولــې

***

## قــلم د ذهــن

د ښــکـلا پـه وطــن پېښ چـې دا جـنجــال شو
د قـــلـم نــوک مـــې فعـــالـه بـاکـمــال شو

پــه زانـــګو د ســولـــې و زنـــګـــېـدل تــوري
هــر غـــزل مـــې لــکه وړانــــګـه د هــــلال شو

لــوپټـــه مــې د مـــزار پــه ســــر بيــرغ کــړئ
يـار وطـن بـانـدې چـې تېــر لــه سر و مــال شو

د ګــورګـــين ســــلامـــتـي غـــواړه رقــيـــبـه
ميرويس خان نيکه سمبال په توره و ډال شو

دوه زولـــنــې د غـــلامــې يــې دي شــکـولــې
بـريـالـی پـــه ســخـــتــو ســتــونــزو کــې بــلال شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بــاور قـــــلم بــه ولـــې نــه چلـــيږي
پــه تــاثيـــر کـې لـکـه تــوره د خــوشحـــال شو

***

## هسکه ټيــټه

پــه غـټـو غـټـو ســتـرګـو چې کــتـل کـانـدي
د نـــرۍ ټــول رازونـــه، پـــه مــنـګول کـانـدي

چې سـمـبـال جـانان د پوهې پـه ځـواک نـه وي
افـتــخــار؛ پـه پيـــکـي او پـه وربـل کـانـدي

چې مـطـــلـب يـې غـوڅـول د تيـــارو نـه وي
شـمـعـه څـلـه پـه تـوره شـپـه سـېځـل کـانـدي

تيـــرو کمــــان هسې نښـه ويشـــتـی نــه شي
لـکـه غيـشی د نظــر چـې ويشـــتـل کـانـدي

هــسکـه، ټيــټه چـې و نـــه وينـــي پـه مـخـکـې
هــا بېـــرۍ بـــه ډوبـــه؛ پـــه اوبـــو تـــل کـانـدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د نیم بسمل په دود شي تر پښو لاندې
بد ملخ په ګلونو کې دانګل کاندي

چې د سود په خاطر وژني نفسونه
د بشر له حد وتی چې وژل کاندي

عقیده وي د سوچه مومن راسخه
د دین په مستقیمه لاره تلل کاندي

د رقیب جادو ته پام وکړئ ملګرو
چې غلیم راته په خبرو خپل کاندي

په سلګونو مشکلاتو ګرفتار دي
چې ژوند څوک په کوڅوکې د کابل کاندي

د پښتون په کور ناتار دی نن باوره
ځکه، ځکه خو اسمان پرې ژړل کاندي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپينې اوښکې

په مخ تويې سپينې اوښکې بې اختياره شوې
ستا خبرې چې وصال کې له انکاره شوې

دا سور سالو دې د توپان په خوله کې ورکړ
په ځنګل د تورو زلفو کې حصاره شوې

دا بې حجابه مخ کتى نه شم جانانه
که يې ګورم دواړه سترګې ګنهکاره شوې

حياداره پښتنه غورځي په تيارو کې
رڼا ګانې منحصرې تر اغياره شوې

د لمرخرک په انتظار ګوره سره شفق ته
قافلې مو را روانې په دې لاره شوې

د غرور ماڼۍ رالوېدونکې ده دلبره
خوښ يم دا چې خپل باور ته وفاداره شوې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښــتانه

پــه نفـــــاق ســوي پښــــــتانــه دي لګه زه
هــر ځــای د تـن پــه وينـــو ســره دي لګه زه

د بېلــتـون پــه لار دامــونـه ږدي يــو بـل تــه
د وحـــــــدت لــــه لارې کــــــا ږه دي لګه زه

د مـــــردانـــو زړه چــولــی نــامــــردانـــو
پــه الـــــمـونـو کـــې وراســــتــه دي لګه زه

خـواخـوږي هـمـــدردي نشــتــه يــو تــر بــلـه
پــه تــش خـــــبـرو کــې خـوا ږه دي لګه زه

د تنــکو زلـمـو پــه حـــال مــو خــوا بــديــږي
چې پــه عــمــرونـو کـې شـپـېـتـه دي لګه زه

نـادانـــي ده د عـــــالِم مقـــام لـــوېدلـی
لــه هــــر مقـــام پــه پـربـېـواتـه دي لګه زه

د تــاريـــخ پـــه آيـيــــنـه کې نظــر نشــــتـه
د غـفـــلـــت پـــه خـــوبــو ويـــده دي لګه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ويجاړ وطن کې بل دي سره اورونه
د پردو په غېږکې پراته دي لکه زه

که د علم ډيوې بلې کړي په کورکې
هاله اسمان ته په خاته دي لکه زه

چې يوبل ته کړي د مينې لاس ترغاړه
باور وکړئ، بيا نو درانه دي لکه زه

***

## تصور د اغيار

تصور د اغيار نه دی د منلو
مست بلبل دی چا شړلی له سرو ګلو؟

د مور مېرې دود خپل کړی رقيبانو
هسې شوم دود به يې بېل نه کړي ترخپلو

که پردي مرغان کړي دلته پروازونه
شاهينان يې نيسي تل په سرو منګولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــورو تيـــاروکـې هـغه پتـنـــګان سـوځـي
چـې وي مـــيـن؛ د شـمـــــعـــې د بـلـــولـــو

د بــاور پـــه نـظــر ډېــر داسـې کســـان شــتــه
چـې غــــلامـي کـــړي راز يـې نـــه دی د ويـــلـو

***

## زندګي د ملنګانو

مــه کـــوه مســـخـــرې پــه زنـــدګـــي د مـلـــنګـــانـو
و ګـوره پـه کـچـکـول کـې پـادشـاهـــي د مـلــنګــانـو

د دنيـــا پـــه مـــال، مـتـاع يـې غـرض نشـتـه دلــبـره
د يـقـــيـــن پـــه تـــار تـــړلــــې وروري د مـلــنګــانـو

پـه مـيـنـه د رحمٰن يې سـر، صـورت دی سـپـېـره کـړی
مـقــيـمـه پـه زيـارت کـې وي شـېـخـي د مـلـنګـانـو

پـه تـشـو، تـشـو لـــپـوکــې اسـمــــان شي لــړزولــی
اخـــتـه مـه شـې جـــانـانـه پـه بــدي د مـلـنګــانـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بخت سره به کور ته ځي، خوشاله هغه یارمې
چې پرانیستلو؛ ور ورته کونجي د ملنګانو

د زړه کور به یې صاف وي له ناولي خس، خاشاکه
که بل یې خپل چراغ کړ په تیلي د ملنګانو

که رښتیا د تودې مینې طلبګاره یې اشنا
نو مست شه اې باوره! په دوهي د ملنګانو

***

## سبا نه راځي

خوره تیاره ده دلته خدایه(ج) سبا نه راځي
ډیوه خاموشه شوله، کور ته رڼا نه راځي

ماتم په ونو ګډ دی د څانګو څرک نه لګي
د بلبلا نو اواز صفا صفا نه راځي

د خزان باد رژوي، رنګین رنګین ګلونه
غوټۍ د سرو ګلو زموږ په خندا نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجنون مزل کړی؛ د تېرو اغزو له پاسه
سترګې يې دواړې ړندې ورته ليلیٰ نه راځي

ګلاب، ګلاب وزرو نه، په اغزو شوله سوري
د بوراګانو ټولګي بيا په نڅا نه راځي

د قربانيو لړۍ شوې تر ښارونو اوږدې
د ارمانونو جنډۍ په رپېدا نه راځي

مظلوم باور اشنا، د غم په مخکې دی ولاړ
افغان ولس ته خدايه(ج) د څرک اشنا نه راځي

***

## با ايمانه ده

تويې شوه، تويېږي دغه وينه با ايمانه ده
خاوره د افغان ده ښايسته له درست جهانه ده

موږ په خپله خاوره هسک پامير او لوی ګوربت لرو
ښکلې په سپين غر او هندوکش باندې ودانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـوږ لــه قـــــربانيـــو، ســـرښــندنـو وېـره نـه کــوو
دا خـــاوره قــدم پــه قــدم هـــر افغـــان تـه ګـــرانـه ده

مـوږ دی پـرځـولـی هـر بـریـدګـر او یـرغلـګر دلـته
تلــلی، نیـــمه خـــوا دی او دنیـــا ورپسـې ورانـه ده

دلـــته د اســـلام او د ایمـــان ستـــنې ودانــې دي
دلـــته د اســـلام طـــریقـه ډېـــره مهـــربـانه ده

چـا چې د دې خـــاورې پـه کـــوتـرو ګـوزار کـړی دی
بیـــا خـو نـو بـاوره دا صیـاد خـپلـه؛ پښـېمـــانـه ده

***

## ګـــران وطـنـه

تـه لـــيـلیٰ يـې، تـه ګــلـشــن تـه ګـلـســتـان يـې
تـه مـو مـيـنـه، تـه ښـايـست، تـه مـو ايمـــان يـې

خـــوږ نســـيـم دې پـه وږمــو، وږمـو چـلـــيـږي
تـه نيـمــروز، تـه ميـــمـنـه او تـه پغـمـــان يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښکلا ساری دې نشته ټول جهان کې
ته پکتیا، ته مې پارون، ته بدخشان یې

ستا بازان کړي پروازونه په دې څوکو
شنه فصلونه، ډک سیندونه د سبحان یې

ستا منې په ټول جهان کې دي نامدارې
ته لوګر، ته مې وردګ، ته مې میدان یې

تر دې ښکلو او سوترو باغونو ځار شم
ته لغمان، ته مې فراه، ته مې بامیان یې

ستا انار الله (ج) په خپل حکمت جوړ کړي
ته تګاب، ته کندهار، ته مې دامان یې

ستا انګور خو په څو رنګه ښایسته دي
ته غزني، ته مې هرات، ته مې پروان یې

ستا میرانه په جهان، جهان یادیږي
ته میرویس، ته محمود او ته احمدخان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا بازان له پښتنو کوي پوښتنه
ته شاهین د هسکو څوکو، لوړ اسمان یې

ستا وګړي د واحد افغان په نوم دي
ته مې خوست، ته مې هلمند، ته مې واخان یې

ستا تاریخ د حماسو داستان لیکلی
ته زما له مینې جوړ افغانستان یې

خپل باور به دې د سر په قیمت ساتي
ته یې مینه، ته یې ژوند، ته یې جانان یې

***

## شهیده

ته لاړې، شهید شوې ځې لا نور شهیده
څنګه ځوانیمرګ شولې غمخور شهیده

ستا په جدایۍ مې اوښکې تویې شولې
اخلم له غلیم څخه دې پور شهیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه د ښکلو زمــرو پــه څـېـر کـامــران شولــې
ستــا دښـمـنـان دلــتـه شـول نــســکـور شـهـیـده

تــه لـــه کـــرامـــاتــو او نېــکــیـو نــه ډک
تـــه بـــه شــې شـفــیـع د پـــلار و مـــور شـهـیـده

تــا خـو لـه خـپـل وطـن نــه دفـــاع کـړې ده
خدای(ج) دې ښـایـستـه کـړه نـوی کـور شـهـیـده

ویـنــه بــه ســتـا و ټــوکـي غــونـچـه ګــلــونــه
تــا تــه دُعـــا کـــانــدي مــور او خــور شـهـیـده

زمـــا بـــاور دا دی چـــې آخــــر رڼــا شـــتــه
تــل بـــه تیـــاره نـــه وي زمـــوږ ورور شـهـیـده

***

## سولـه

ټـوکـــېـدلـې خـوشـــالـۍ وي تل پـه سولـه
غـوټـې شـوې تـربـګـنــۍ وي تل پـه سولـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې طبیعت ټوله بدمرغي ده
تودې مینې، ورورګلوۍ وي تل په سوله

د ظالم نغری تودیږي په جګړو کې
پالل شوې نېکمرغۍ وي تل په سوله

په جګړو کې د سرونو لوبه کیږي
غوړېدلې شتمنۍ وي تل په سوله

بربادي او هلاکت وي په جګړو کې
را روانې کامیابۍ وي تل په سوله

په ټوپک د پرمختګ ستنې نړیږي
ښه پېشرفت او ترقۍ وي تل په سوله

جګړه باسي انسانان له علم وپوهې
له جهان سره سیالۍ وي تل په سوله

په جګړه کې اې باوره! خوښي نشته
امن، روغه او خوښۍ وي تل په سوله

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تــرې پټېــږم

ټولـه شـپه ګـرځـم راګـرځـم په سهــارکې تـرې پـټـېـږم
زه لـه لمـر څخه شرمـېـږم پـه يوغــارکې تـرې پـټـېـږم

فـرمــايش د مــلا ډېــر دی زه وزګـــار، وزګـــار عــامي يـم
زمــا وس ورســـره نشـــتــه پــه خــپل وارکې تــرې پـټـېـږم

پل يې واخيست زمـا کـور ته او د غـلـه ګمــان يې کـړی
پـه کــوټـه کې ورتــه ښکارم، پـه چـنـارکې تـرې پـټـېـږم

د مـظـلـوم پـه خـولـو، ويـنـو يـې ګـټـلی خـپـل قـلـنـګ دی
لـه بـادار څـخه ډارېـږم، پـه خپل کــارکې تـرې پـټـېـږم

پـه لــيدلـو د جــابـر مـې؛ سـتـرګــې دواړې شي زهــيــرې
چې پــه مـخـه کـــلــه راشي نـو پـه لارکې تـرې پـټـېـږم

دا قـــرضـدار بـه مې نو څنګه کـــړي پيــدا بـاوره يـاره
پـه کـوڅـو کې غلی ګـرځـم او په ښـارکې تـرې پـټـېـږم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاړې

تــه مـصــدر د خــدمـــت، کـــار وې رانـه لاړې
د مـظـلـوم پـه غـــم بـيـمـــار وې رانـه لاړې

دا دوې ســتــرګـــې غـــړومـه بـې ديـــداره
تـــه مـې هـــيـلـه د ديـــــدار وې رانـه لاړې

د فـطـرت د خـصـلـتـونـو پـه لـوی بـڼ کـې
پـه ګـــلـونــوکـې نـــګـــار وې رانـه لاړې

سـتـر شـامـار د زړبـودۍ؛ ټـک پـه زړه درکـړ
د ځـوانـۍ شـپـې دې پـه شـمـار وې رانـه لاړې

پـه خـــزان وهـلـو سـتـرګــو، ګـورې مـاتـه
د تـنــــکـو غـــوټـــو بـهــــار وې رانـه لاړې

بـاور سـخــت دی دردېـدلـی اې ثـاقــبـه!
د پــــرون ورځـــې ســـــالار وې رانـه لاړې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دستار د معــارف

چې خــبــر نــه وي مـخلـوقــه ځـوک پــه کــار د مـعــارف
ورتــه مـه ږدئ پــه کـــکـــره لــــوی دســـتــار د مـعــارف

چې یو ګــام اخیـسـتـی دا ښـاغـلـی نـه شي مـخ وړانـدې
ور پـه غـــاړه کـــلـه مـه کـړئ؛ ښکـلـی هـــار د مـعـــارف

چې را پــورتــه د ولــس لـــه مـنـــځـه نـه وي ملــګـرو
تـیــــرېـــدلـــی کـــلــه نــه شـي پــه دا لار د مـعــارف

ښـایـسـتـه بـدلـون هـرڅـوک قـبـلـوي پــه خـپـلـو سـتـرګـو
خـو بـدرنـګ سـړی بــه پـرې کـړي نـازک تـار د مـعــارف

لاس نـیـســه ســوداګـــره د پــوهــنــې لـــه خـــرڅـــلاوه
لــه سیـاسـت ځـینـې جـدا کـړئ شـیـن بهـــار د مـعــارف

افـغـــانـي ټـولـــنـــه غـــواړي د پــوهـــې ســـمـــه بـنـــه
حـســـاسـیـت کـــلـه روا دی نـــور پـــه ښـــار د مـعـــارف

نـېــک تـصـمـیـم خـپـلـه نـیـسـه اې د لـویـې کـرسـۍ والــه
حـقـیـقـت ورتــه اظـهـــار کـــړه پــه شـعــار د مـعــارف

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سمبال دغه نظام کړو د کادر په راتللو
مونږ به و سپړو باوره ګل په خار د معارف

***

## کسوف

چې سپوږمۍ راشي تر منځه دا د ځمکې او د لمر
تول په یو مستقیم خط شي، یو مسیر شي برابر

سپوږمۍ ځمکې ته شي لوی خنډ د لمر د شغلو مخکې
تیاره شي توره خوره، تر ږمۍ را لېږي نظر

جغرافیه داسې وایي اې د زړه سره دا واوره
کسوف کله پوره شي ګله، یا یې نیم شي سفر

کسوف د (ک) په حرف یعنې په (کلان) پیل شوی
ځکه چې لمر ډېر کلان دی نسبت په ښکلي قمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـــرق د کـــسوف او خـــسوف واضـــح پـــه دې کـــلام شـــولـــو
ســـلام، ســـلام دی بـــاوره؛ چـــې دې بيـــان کـــړ بهـــتـــر

***

## دُر دانه

ســود يــې چــې ورسيــږي تــر پــردو خـــپلـو
ارزي داســې ښـکـلـي لاس پــه ښـکـلـولـــو

پــه پـلـيــتـه جوسه شـنـې وي کـرغـېـړنـې
هــغـه وړی چـــې هـيـڅ نـه وي د اوبــدلـــو

دُردانـه خـو د زړګــي پــه ســـر ســوری وي
کـــنـــه نـــه وي پــکـــې تـــار د اچـــولـــو

ور کـوزېـږه داسې غـــار او يـا کـوهـي تـــه
چې لار و لـــري د بېـــــرتـــه راخـــتـــلـو

چې بيـا وروسته تـر ويلو پښېمان نه شې
هـــغـــه وايـــه چـــې وي وړ د اورېــــدلــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږده رېږه کړه وړه خو عمل سم کړه
بې عمله رېږه وړ وي د خرېلو

د نادان د نادانۍ نښه خو داده
داسې وايي چې وړ نه وي د ويلو

دانه مه خوره د فاسق له دام خانې نه
وزرې به يې په پرواز د الوتلو

د شکست زړونو ټوټې کړه بيا راټولې
لاس په کار شه د دې زړو؛ د رغولو

پلېتيو کې که خس او يا خاشاک وي
خود هغه ډېران دی وړ د سوزولو

د نيستۍ اوبه وي داسې لکه وينې
خوږه مينه دا اوبه کړي د وينځلو

خپل ويل او عمل دواړه سره يوکړه
اې باوره! چې منظور شي د منلو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انـډوخــر

چې سپـیـن پـاتـه او تـور خـوشـې واي پـه غــرو
لـــور پـه لـــور بـه انـډوخـــر واى بس د خـــرو

ننـــــداره د ســـــرکــښـو واى روانــه
را ټــول شـــوي واى دا خــــره لـــه شـــنـو درو

هنــګـــېدل، غــورځـــېدل پـه کـــاڼو، بــوټـو
جـنــګـــېدلـــی پـــه لغـــــتو، پــــه ســــرو

د ځنـــګـل لـــور يـــې مـــنـډه واى اخيــستې
ور پېــښ شــوي واى پـــه ښــکـارکـې د زمـــرو

خـــره واى تـلـــلي زمـــريـان واى پـاتــې شــوي
حـــــارســـــان واى د دې دښـــتـو او مـــيـرو

مـــدد ګـــــار د ښـــو چـــــارو واى بـاوره
دښــمـــنـان يـــې ښــکــارولـی پــه خَـــرُو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حُسن د حسين

حُسن د حسين خو حوصله ماتوي
سل که توبه ګار شي نو توبه ماتوي

بې حسابه ځمر چېرې چې امبار شي
ښاخ مات شي د ونې او تنه ماتوي

ملال زړه د ښايسته مخ وکتوته
تصوير باسي کلکه اٰيينه ماتوي

له غفلته يا علته چې شي بنده
غل د کور تړلې دروازه ماتوي

چې کړه وړه يې انسانيت ته ورته نه وي
دا کړه د انسان ښکلې څېره ماتوي

په حيا او په ايمان چې سمبال نه وي
وعده کړي باوره بيا وعده ماتوي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خسوف

ځـمکه چې راشـي د لمـر او سـپوږمۍ تـر مـيـان
پـه يـوه مـســتـقـيـمه لـيــکـه هــمــزمـــان

ځـمـکـه د لـمــر شغلې؛ نـه پـريـږدي سـپوږمۍ تـه
تـيـــاره سـپـوږمـۍ؛ بـې لـمـــره کــلـه شـي تـابـان

نــو بـيـــا وايــو چــې خـســوف دی واقـــع شــوی
پـه نـيـمـه مياشت کې تـوره سـپـوږمۍ شي ګـويـان

خـسـوف پـه (خ) يـعـنـي پـه (خـورد) شـــروع شـوی
سـپـوږمـۍ وړه ده نـظـــر لـمـــرتـه پـه اسـمـــان

چـې د خـســـوف پــه هـــکـلـه نــه شـو اشـتـــبـاه
بـاور پـه دې مـوخـه دا مطـــلـب کـــړ بـيـــان

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څمکه شوه شاړه

څمکه شوه شاړه لالیه، شنه فصلونه پکې نشته
سېلابونو ده نیولې، صاف سیندونه پکې نشته

تېزابي اوبو مو ونې کړلې، ټولې راخوړ منې
ځانګې وچې شوې سرېیه چې ګلونه پکې نشته

تور زاغان دي را ټول شوي په دې وچو، وچو ځانګو
د بلبلو غزلونه، اوازونه پکې نشته

مستي نه کا سرې سرې هوسۍ مو په غرونو په رغونو
ګلان ټول دي رژېدلي شه عطرونه پکې نشته

په باروتو کې الوزي کاڼي، تیږې د دې غرونو
ذره، ذره چاودلي، سره لا لونه پکې نشته

په خزان کې بهار نشته اې باوره! خبردار شه
لاس دې لپه کړه سبحان ته، امیدونه پکې نشته

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تنهــیږي اسمــان

خـــزان جـوړکـــړه تـوپـانـونـه دلــتـه ډېـر
مــړاوې، مــړاوې شـول ګــلـونـه دلـتـه ډېـر

را تنهـــــیـږي اسمـــــان پــه تــورو وریځــو
ږلــۍ وځــپـل فـصــــــــلـونـه دلـتـه ډېـر

خـــړو خـــړو سـیـلابـونـوکـــړه ویـجـــاړ
ښـکـلـي ښـکـلـي ګــــودرونـه دلـتـه ډېـر

ګـــلاب ګـــلاب ســــرونـه یـې رېـبـــلـي
کــوم بـد رنـګ کـــړي لــونـه دلـتـه ډېـر

د ظـــالـم صـیـاد لــه لاسه چـوپ چـوپ دي
د بـلــــــــــبـلـو اوازونـه دلـتـه ډېـر

د دې وخـــت د ظـــالمـــــانـو لـه جـفــا
څـیـرې شـوي ګــــرېـوانـونـه دلـتـه ډېـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



باوره په سیلۍ سپېره سپېره شول
د غوټو زیبا مخونه دلته ډېر

***

## خیالي نښتر

یو خیالي نښتر ولاړ د یاد په غره دی
زما اوښکو اوبه ورکړې اوبه نه دی

د انګړ مېوه پخه شوله جانانه
توتي ناست ورته دکور په دېواله دی

د مراد له دروازې نه به تېرنه شي
زړه نرۍ لکه په شکل د وېښته دی

چې د ذات په دښته دواړه ګرځو یاره
ستا غم ټول را سره مل دلته په زړه دی

هریوه ګل ته په صحرا چې ته ګورې
دا زما د زړه په سرو وینو اوبه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا هــر يـاد خــو زمــا ذهــن کې لــمــبه شــو
زمــا يـاد بيــا ســتا پــه ذهــن کــې ويـده دی

زه يــې پـاس د زړه پـه بـاغ کــې ګــرځـېدمه
خـپـه شــوی يـار لــه مـــا څـخه پــه څه دی؟

شـپه کې نــه وي او پــه ورځ کې را پـيـدا شي
دا اواز خـــو د ګـــــــاونــډ د کـــور د وره دی

اې بـاوره! ســتـا مـــارغه دا ســتـا پـه کـور کې
ويـشـتـل شـوی پـه زړګي کې پـه لـيــنـده دی

***

## د زړه انځـور

دا زمـــــا د زړه انـځـــــــور دی شـــاعـرنـه يـم
دا د وخـــت لــه غــم نـه پُـر دی شــاعـرنـه يـم

زه بـړاس د زړه ويـســتــی نــه شـم لـه خـولـې نـه
دا د ذهـــــن يـو عـــــاشـــور دی شــاعـرنـه يـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلمونو ناکردې لیکي هنرکې
د ښکلا بدرنګ تربور دی شاعرنه یم

د سرو وینو له سېلابه توري اخلي
د خیال بحر کې عبور دی شاعرنه یم

د برېښنا په نیلي سپور ځغلي اسمان ته
د فلک په تېغ مغرور دی شاعرنه یم

لکه خس وخاشاک غورځمه سره اورته
زیست وژواک مې د تنور دی شاعرنه یم

ولې غورځې د رقیب په تېره توره
د سکه وروړګردن بُر دی شاعرنه یم

غواړي زړونه بیا د مینې په منګولو
ژوند د مینې مې منظور دی شاعرنه یم

هغه زړه به کله روغ نه شي باوره
چې په سرو وینو مسرور دی شاعرنه یم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تابوت

په ژوندون د دې دهر افسانه وينم
عالمان د وطن په ويرانه وينم

اُصول تور نخود دي اوسه سرګردانه
د زورمند ناراسته کار، جانانه وينم

ټول يې ويني ورته ګوري په حيرت کې
د قانون تابوت پروت په هديره وينم

يوه تَله په اسمان وي بله دلته
زه د عدل عجيبه فيصله وينم

د زورواک پر مخ ټول ورونه پرانيستي
انتظار کې مظلوم په يوه پښه وينم

د حقه حقوقو تېښته ده هر لوری
د بې شرميو توره سلسله وينم

د بقا په ځای کې اخلي ژوند د نورو
د چپ لاس دوزخيانو کارنامه وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



عــدالـــت د دې دنیـــا پــه چـــارو نشـــته
بېچـــاره کـس پــه هـــر لار بېچـــاره وینـــم

ښه مـقـــام پــه ښه بیــه اخیســتـل شـوی
د خـــایـن د خــیـانـــت مـعـــامـلـه وینـــم

کـه ولـس داسـې ویـده او یـا خـــامـوش وي
جنــګســـالاروکـې جـوړه دا مـــېـلـه وینـــم

مجـرمـــان ګــرځي آزاد او پــه سـرو سـترګـو
مظــلـومـــان بنـــد پـه تـــوره زولانــه وینـــم

پــه امســـا د هـــوســـایـۍ نســـکوره نــه شـو
ژونـد بـارسـتړی، سـتـومـــانه په شـــانه وینـــم

لاس د سـوال یـې کـه اوږده وي هـمېش بـل تـه
اختـــیـار د داسـې کـــلـي بېـــګـانـه وینـــم

هـــره ورځ یــې ټـــکـوي لـــه بـــل ادرســـه
د زړه کــــورکــــې د پـــــردو دروازه وینـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه اوبـــو د داسـې وران کـــــوهــي بـاروه
د ژونـــدون د تبـــــاهــۍ وســيـلـه وينـــم

***

## د حُسـن بـڼ

د حُـسن بــڼ کــې ګــرځـم، ژېــړ ګـــلـونـه ټـولـــوم
د ګــل پــه نــرمــو پــاڼــو کــې رنـــګـونـه ټـولـــوم

کـچـــکـول د مـحـبــت مـــې ګـــــرځـومـه در پـــه در
فـقـــيـر مـلـــنـګ، د حُـســن خــيـراتـونـه ټـولـــوم

زخـــمــي زړګـــي تـه وړمــه د خـوږې مـيـــنــې درمــل
شـېـريـن، شـېـريـن پــه جـــام کــې شــربتـــونــه ټـولـــوم

د خـيـال پـه هـسکـه ځـمکـه چې زرغـونـــې شـي هـيـلې
احـســـاســه را وېـښــــېـږه، ارمــــا نـونـه ټـولـــوم

پـيـــدا چــې پـــه کــې تـوري کــړم د مـيــنــې د لـفـظـو
آيـــت، آيـــت يـــې لـــولــم، قــــرآنـونـه ټـولـــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاسته، پاسته غـــزل بـه  د میـــنـې ورتـه وایـم
د جنګ په نشو مست سترګې قـــامونه ټولـــوم

اساس د خوا ږه ژوند؛ چې دې ځمکه باندې کیږدي
بـاوره! لـوړ خـیالـونـه، لـوړ فـــکرونه ټولـــوم

***

## سترقــاتلان

در بـــدر افغـــانســـتان به وي تـرکـــومه؟
رنـګ پـه وینـو افغـــانان بـه وي تـرکـــومه؟

چې د یـو او بـل پـه مـرګ بـانـدې خـوشـبیږي
دغـه سـتر سـتر قـــاتـلان به وي تـرکـــومه؟

د خـــدمـت او پـرمـخـــتـګ تـر نـامـه لا نـدې
دا بـــې لارې انســـانـــان بـه وي تـرکـــومه؟

د نېـســتـۍ لاس یـې اوږد کـړی دی بـل چـاتـه
ځـورېـدلـي یتـیـمــــان بـه وي تـرکـــومه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینــه ځـي زمــوږ ســود تــرې بــل وړی بــاوره!
د پــردو د جــنګ مــیدان بــه وي تــرکـــومه؟

***

## مــه ژاړه

مـــــه ژاړه دردونـــــــو تـــه دوا بــه شي
تــوره شــپــه بــه تېـــــره او ســبــا بــه شي

لـــوړه حــوصــلــه کــړه پــه ســخــتــۍ یــاره
ســتــا ژړا بـــدلـــــه پــــه خـــــندا بــه شي

ځـــمه اې فلـــکه! پــه طــبــیــب پســې
دم، تعــویذ دې راکـړه چې بېګـا بــه شي

نــه مــومـــم دردونــــو تــه درمـــــل یــاره
زمـــا هـــیلــه بــدلـــه، دُعـــا بــه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای(ج) دې لــه آفـت ساتــه بـاور يـاره
تــور ظـــلــمت اوښـــتــی دی رڼـا بــه شي

***

## طبـيبه

درمـــل د زړونـــو وکـــړه ځــوان طبـيـبـه
هـــم د غـــريـب او هـــم د خـــان طبـيـبـه

د بـل ژونـدون تـه دې چې ژونـد وقـف دی
رب(ج) خـو دې ســاتـه پـه جـهـان طبـيـبـه

وينـــې بـهــيـږي پـه دې خـوار وطـن کـې
د مـجــروحـــانـو کـــړه درمـــان طبـيـبـه

اخــلاق شـېـريــن د طــبـابــت لـــرې تـه
بـل ښـايـسـتـه غـونـدې وجـدان طبـيـبـه

ژغـورې لـــه مـــرګـــه دا ټـپـي انـســانـان
تـه يې ژونـدون، تـه يې جــانان طبـيـبـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دُعاګانو کې شپه، ورځ یادېږي
ستا خدمتونه بې پایان طبیبه

ظالمان اخلي له انسان څخه ژوند
تا خو ورکړی دی امان طبیبه

باور دی ستا له خدمتونو مشکور
ته یې ګلاب ته یې احسان طبیبه

***

## د فتنو کړی

د ظلمت توپان را خور دی زمونږ په کلي
سپین سهار خو څکه تور دی زمونږ په کلي

په قسمت مو د تقدیر کاڼې دي وارېږي
غم د غم په نیلي سپور دی زمونږ په کلي

ښو عالمانو ته یې شا ده اړولې
د نادان د ټوپک زور دی زمونږ په کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فتـــــنوکـــــړۍ ور اچــوي دوه لاســـوکــې
پـورتــه شـوی شـــــر او شـــور دی زمـــوږ پــه کـلـي

پــه کــې ښه غــوږ دي د وحـشـت پـــردي لاســونــه
د خــونــکارو مــخ تـــک تـــور دی زمـــوږ پــه کـلـي

پــه غـــربـــت او نـــادانـــۍ کـــې را څـخه تلــلـي
ننــګ، غیـرت دلــتــه نسـکور دی زمـــوږ پــه کـلـي

ظـــالمـــان لــه جـګـړونــه غــواړي خپلـې ګـټـې
سـخـت حـــالـت بــاوره خــپــور دی زمـــوږ پــه کـلـي

***

## فســـاد

د هـــرفـــاسـد پـــه ضــد جـهـــاد غــواړو
نـــور مــحــــوه داســـې آدم زاد غــواړو

پـــه دې اصـــل کـــه رســي مــقـــام تـــه
ویـجـــاړ دا اصــل لـــه بـنـــیـاد غــواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښه کــافـي مـــزد د کـــار شـي ادا
نـوبـه کـار؛ تـرې په اعـتـمـاد غـواړو

کـــه د فـــســـاد لـــړۍ وي روانـــه
څـنـګـه بـه خـپـل ملـت آبـاد غـواړو

پـــه خـــبــرو نــه پــه تېــــره تــوره
پښـو د ملـت تـه يـې افــتـاد غـواړو

چې رنـځــونــه کــړي درمـــل بـاوره
داسـې طـبـيـب، داسې اسـتـاد غـواړو

***

## مـات زړه

ديـدن د ښـکـلـي مــخ رانـه کـاکـل يـووړ
غـمـــونـــو د زړګـــي رانــه ګـــوګـــل يـووړ

ســـم د هـــيـلـو پـــه ګـــلـزار و ټـوکـېدلی
ګـــل ګـــلاب دا شـــېــــبــه رانـــه وربـــل يـووړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بڼــو پــه غېــشو زه ســوری، ســوری شــوم
د مــرګ قــاصد تــلــوکــې رانــه اجــل يــووړ

د انــګار لــه بڅــی تــورې لمــبې خــېژې
خــندا يــې د مــات زړه رانــه مـــزل يــووړ

د بــاور نــصيــب بــه څــنـــګه شــي بــاوره؟
يــار خــو پــه اشـــارو رانــه مــورچـــل يــووړ

***

# محصلين

را ټــول شــوي پــه لغــمـــان دي محــصلــيــن
څنګ پــه څنګ لـکه ګـلان دي محــصلــيــن

پــه بــاغــچــه د عـــلــم، فـــن يــې ګــذر دی
مـــېــړنـــــي دي، اتــــلان دي محــصلــيــن

دغــه کــور بـــه پـــه پـــوهـــه شــــايســـته کړي
د پــکــتــيــا کـــه د مـــيــدان دي محــصلــيــن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګلـو پـه غـونچـو کـې رنـګـارنـګ دي
د وردګ کـه د بغـلان دي محـصلـين

د پېـشـرفـت پـه کـاروانـو يـې مـزل دی
د لـوګـر کـه د بـامـيـان دي محـصلـين

مـزار، کـنـړ، کـابل پـرې ښـايـسـتـه دي
کـه د خوست يا نـورستـان دي محـصلـين

د بـاور د سـتـرګـو تـور دي، وطـن کـې
د رڼـا پـه لار روان دي محـصلـين

***

## نوبهـار

بـيـاراغـلـی نـوبهـار دی پـه ګلـونو
څه ښـاغلی مـو ګـلـزار دی پـه ګلـونو

بلـبلان د خـپل ارمـان پـه لمـبـو سـوي
فـريـاد يـې سهـار، سهـار دی پـه ګلـونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستـــایــلـو پــه ســـــندرو زرکــې مـــســـتــې
پــاس د زانګــو څــه کـــــــــتـار دی په ګلونو

یــو چغـــــار د تــوتـکـــیـو او مـــــرغـــیـو
تــاثیـــر پـروت خمـــار، خمـــار دی پـه ګلونو

د رنـــګـونــو پــه زړګـــي کـــې نـخـــبدل دي
غـــبز خـــپـور شـــوی د انـــار دی پـه ګلونو

ســتــا د لاس پــه شـنـه پیــالـه کـې پـسـرلـیـه
خمـــــاري د ګـــلـو هــــار دی پـه ګلونو

خــوشـــبـویـــي راوړې ســـتــا د لاس نـشـه ده
رنګـیـن شـوی ژونـد پـه ښـار دی پـه ګلونو

تــور داغ نــه لـــري پــه زړه تـــازه ګــلـونـه
د خـــوښـــیـو ډک بـــــازار دی پـه ګلونو

د بـاور د زړه تـسـکـیـن شـوی اې خـدایـه(ج)!
د ښـــایســت جـهـــان واکـدار دی پـه ګلونو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تور توپان

د ظلم په جامه کې تور توپان مې ځوروي
ويشتلی يم په زړه تير وکمان مې ځوروي

د آب سپينې جامې دي الوتلې هوا ته
ناولي، تباهکاره ظالمان مې ځوروي

د علم او فن کډه بار شوې له دې چمه
خرڅ شوي بې فرهنګه جاهلان مې ځوروي

چې امن، امان نشته ژړا به کرمه چا ته
له خدايه(ج) لرې، لرې جابران مې ځوروي

بل شوي اورونه په هر کلي او دېره دي
ضربې د ماشيندارو، توپ، هاوان مې ځوروي

ربه(ج) ته يې خپله په حال سوله مېلمنه کړې
دا خوار و زار وګړي افغانان مې ځوروي

څو به د يتيم له سترګو اوښکې ځي خاونده
زموږ د شهيدانو لوی کاروان مې ځوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــه دغـه ازمــونــه نـور نجــات غـواړو سبحــانــه
د هــرې، ببـلــې ورځــې امــتـحـــان مــې ځـوروي

د واک او څــو روپــو پــه ســـــر وطــن شـولــــو بــربـاد
د واک د جګـړه مـــارو سـست ايمـــان مــې ځـوروي

جهـــان پـــه ســرو ګــلـونـو کـې ګــلـزار دی بـاوره!
مـظـلـوم، پـه وينـو رنګ افـغـانسـتـان مـې ځـوروي

***

## بيــرغـونـه

رپيــبږي بيــرغــونـه هــديـرو کې څـنګ پـه څـنګ
کــيـنـدلـې مـقـبـرې شـوې د شهــيـد پـه وينـــو رنګ

عـــاشقـــان کـــله څــه وينـــي، د عـشـق پـه لاره کې
خـوښــيـو ســره نـاڅـي بـلـې شمـعـې تـه پـتـنـــګ

پـه خـيــرنـو سـتـرګـــو؛ رقـيـــبـه راتــه مـه ګــوره
دلــتـه پنـــاه شوی دی لــوی لښـکـر د روس، پـرنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه دا لـویـه هـدیـره کـې د افغـان د تـاریـخ
خښ شوي لوی کسان دي، شناختې نه لري د سنګ

زمـانـه شـوه بـدلـه، حـال بـدل نـه شـو زمـوږ
پـه ذهـن کـې مـو خـوځـي د بـابـا د تـورې شـرنګ

غـړمبـیـږي هـر لـور تـوپ، طـیـارې درانـه بـمـونـه
تېـر شوی وخت یـارانـو نـور د تـورې او ډال جنګ

د نـن ورځـې دفـاع کـیـږي جـانـانـه پـه پـوهـه
کـامـیـاب نـن پـه نـړۍ دي چې پـه عـلـم کـړي غـورځـنګ

نـادان دی پـرېـوتـی پـه مـنـګـولـو د صـیـاد کـې
هـوښـیـار مـرغـه بـنـد نـه شـي پـه دام، لـومـه د نـیـرنګ

آدمـه نـڅـا مـه کـړه ډُول، سـورنـې تـه د رقـیـب
بـیـداره درخـانـۍ کـړه بـیـا د خـپـل ربـاب پـه تـرنګ

سـنـګـسـار شـي مـېـوه داره ونـه پـه درنـو کـاڼـو
لـوټـه نـه ده چـا وار کـړې د مـڼـو پـه نـیـال دنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـا امــیـده نـه کـېږې دا د خـوږو هــیـلـو کـچــکـول
همـت د ځـان باور کړه، مه شه، مه شه خـوار ملـنګ

***

## راډیوګانې

رنګ پـه رنګ کـېږي تبلـیغـونـه راډیوګـانـې
ښـنـګ پـه ښـنـګ کـېږي ولسـونـه راډیوګـانـې

ځیـنـې ښې او ځیـنـې بـدې پـه تبـلـیغ کې
کـاڼـي، کـاڼـي کـېږي لـوی غـرونـه راډیوکـانـې

بـلا شـونــدې ښـکـلـوي تنـــدی د غـېـشـي
هڅــــوي انقـــــــلابــونـه راډیوګـانـې

کــــلـه اور، کـــــلـه اوبـه پـه ژبـه وايــي
ګــړنــدي کـېږي غــورځـنـګـونـه راډیوګـانـې

کـــېږي ړنـدې د حـقـیـقـت سـترګې پـه بیــړه
کــلـه کـــلـه کـېږي ګـواښـونـه راډیوګـانـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درواغــو پـه خـــبر يـې بـاور مـه کـړئ
کـــبروي ځيــــنــې ذهـــــنونـه راډيوګانې

چې رښتـيـنـى يــې وي هـــر خـــبر بـاوره
کـاشکي وکـــړي تبـلـيـغـونـه راډيوګانې

***

## ډغـــرې

زړه يـې يـووړ پــه پنـجـوکـې؛ وهـــي بـاز خـپـلـې وزرې
غـبرا اورم نـه پـوهـېـږم چې څــه وايـي، څـه کـړي خبـرې

زمـا پـه زړه کـې حک دي، پل پـه پل يې چې وينم خلکو
سـرې وينــې څـڅــېدلـي هــم پــه لــوړه هــم پــه ژورې

نـور د حــال پـوښـتـنـه مه کـــړه د ټپـي زړګـي لـه حــالـه
هـېـخ ويــلـى درتــه نــه شـي، شــي خـبـرې مـــــروري

عــاطـفي اواز را شـوى لــه غـيـبـو دى زمــا خــيـال تــه
پــه ظــالـم بـاز پسـې ګــوره د غـــره څـوکـې اوکـمـرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــا کــمـرې چـې پــرتـــې دي د غـــــره ډډه کـــې لالـــيـه
چـې بــازان يــې پــه ســر ګــرځـي، ټـپـوســـان وهـي ډغــرې

مست بازان خو يک تنهـــا پـه دې مـحـل ګـرځـي بـاوره
ټـپـوســـان شـي ډلــې ډلــې، کــړي پــه دې مـحـل حشــرې

***

## شپېلۍ

زړه کـــې دي دردونـــه، کــــړه بيـــان شـپېلۍ
خــلاص کــړه پــرې؛ ســـرونـه د افغــان شـپېلۍ

غــــرونـــو او رغـــونـــو کـــې رمـې رنـــګ شــوې
داړي چـاغ چـاغ پسـونـه سـره لـېوان شـپېلۍ

درونـد خـوب دی راغـلـی پـه شـپـونکي بـانـدې
خــود بــه يــې رمــه وي ســـرګـــردان شـپېلۍ

دلـــتــه ده د مـــېـرې او لـــــېـوه جـــګـــړه
کـــفـــر شـــو نـــازل پـــه مسـلـمـــان شـپېلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص مو له داړلو د وحشیانو کړه
وکړه یو غورځنګ د خپل ایمان شپېلۍ

ځان ورته تیار کړه په باور یاره
واخله په سندروکې سامان شپېلۍ

***

## د همکارۍ لاسونه

د بڼ په څانګوکې شېرین بلبلان ښکلي
زموږ په کلي کې دي پېغلې، ځوانان ښکلي

د همت ملا یې ده تړلې په ځیر یې وګوره
راټول په ګډه دي د ژوند په میدان ښکلي

د همکارۍ لاسونه یو بل ته خواږه غزوي
په خویندو، ورونو کې پیاوړي مشران ښکلي

دوی را ټولیږي د خوښیو او غمونو په وخت
د میلمه قدرکړي دا ټول قدردان ښکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کـــرکــه ګــوري، نفـــرتــونــو او نفـــاق تــه واړه
رنـــګـه ګــلــونــه دي پــه دغـه ګــلــدان ښکلي ښکلي

دوی د اخـــلاقــو، د ســلــوکــو، د ښــايـســت نمـــونـــه
ټول ښــايســتــه دي پــه زېــور د عــرفــان ښکلي ښکلي

تــل فـيـصـلې کـړي د جــرګــو او مــرکــو پــه مــرسـتــه
دوی پـيـــروان دي د سـپـېڅـلــي قـــرآن ښکلي ښکلي

د غـــيــرتمـــنـــو ســـــر دې تــل وي پــه امـــــان بــاوره!
رب(ج) دې سرلوړي لـري دوی په جهـان ښکلي ښکلي

***

## ښـــېــرا مه وړه

ســـــاتــه لاسـونــه لـــه ظـلـــمـــتـه، ښـېــرا مه وړه
اخــلــه ګــامــونــه لـــه تــومــتــه، بــدوا مه وړه

د حـــرص پـه اور د خـپل ايمـــان اوبـه کـــړه تــويــې
د هيـچـا مـــال، متاع خـپل کـور تـه پـه شــا مه وړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که حَکم شولې عدالت په کار کې وکړه
حق د یوه مسلم قطعاً په بل چپا مه وړه

اعتبار چې په تا وشو نو راست امین شه
حلال غواړه، حرام مال؛ هېڅ د دنیا مه وړه

ډېر راضي اوسه په حلالو که هر څو وو
له مخلوق څخه رشوت، په ناروا مه وړه

ته دنیا کې نېک عمل وکړه مومنه ګله
ښکلی باور د ځان توښه کړه خطا مه وړه

***

## سپین زړه

سپین یې زړه، پاک یې ایمان سبحان الله
د ښکلاوو مسلمان سبحان الله

رذالت، ضلالت نه لري ګرځي
عمل کاندي په قرآن سبحان الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حـیـا پـه خـصـلـت بـانـدې سـمـبال دی
د مــومـــن ښـکـلـی وجـــــدان سبحـان الله

استـغـفـار، تــوبــه کــړي لــه ګــنـاهــونـو
د جـنــــــــت پـــــــه لار روان سبحان الله

لــه نــادان او فــاسق نــه لــرې ګــرځـي
سـتـایـل شــوی دا انســـــان سبحان الله

چې بـاور یې مـــاښــام ستوروکې ګوري
ځـلـیـدونـکـی پـه اسمـــان سبحان الله

***

## ګـرځـم پـه هـرکلي

سـرو لـمـبو دي سـوځـولـي نـن چې ګرځم پـه هـرکلـي
بمـــــــو دي الـــــوزولـي نن چې ګرځم پـه هـرکلـي

کـور پـه کـور او چـم پـه چـم دي د سـیـلـیـو نـاتـارونـه
ســــرو مـــنـو دي ژړولـي نـن چې ګرځم پـه هـرکلـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه کـوم تـور، کـومـه ګـنـاه رقیـبـه داسې در بـدر شوو
شـهـیـد کـیـبري نـازولـي نـن چې ګرځم پـه هرکلي

رنګ پـه رنګ جنډې رپیـبري پـه قـبرونـو هـدیروکې
شنه او سره دي ځـړیـدلـي نن چې ګرځم پـه هرکلي

د لالـه وو پـه ګـلـزار مې سـرو ګـلابـونـو تـه ژړل
پـه وینـوخـړوبېـدلـي نن چې ګرځم پـه هرکلي

پـه جهـان نـارې، سـورې د پـرمختـګ دي را روانـې
خـړبـامـونـه نـړیـدلـي نن چې ګرځم پـه هرکلي

د افغـان عـقـل او هـوش بـه کـلـه خپل سر تـه ستنیږي
وحشـتـونـو وېـرولـي نن چې ګرځم پـه هرکلي

پـه هـر ملک کې ټول وګـړي خپلـو مـوخـوتـه بـاوره!
پـه وحـدت دي رسـېدلـي نن چې ګرځم پـه هرکلي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کپچه مار

سرونه که پراته په لار دي څه به وايې نه
ښارونه که پرې خبردار دي څه به وايې نه

صادقان مې لیدلي د صدق په لمبو سوي
غرغره د ظالم په دار دي څه به وايې نه

هسکېدل تر هغه ځای کړه چې وس دې وي پوره
ډېر را لوېدلي له چنار دي څه به وايې نه

غله ته یې وس نه رسي؛ مظلوم یې رانیولی
د غله شونډې سرې په انار دي څه به وايې نه

د چرس په نشه کړي ګرفتار غافل وګړي
په ښو مردارو کې کتار دي څه به وايې نه

کشوي حرام مالونه شپه او ورځ محل کې
نېک کرداره په زړه بیمار دي څه به وايې نه

په خیانت د زورور یې ناپامه ګذر دی
په تهمت، تهمت، ګرفتار دي څه به وايې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلقه ځنځیرونه غزېدلي ښکته پورته
سلسلې یې په شرنګهار دي څه به وایې نه

رنګ په رنګ بهانې دي د جېب په ډکولو
په ناحق، ناحق، پاک آزار دي څه به وایې نه

تش بهانه غواړي د ګوزار په انتظار کې
چوپ شه باوره! کپچه مار دي څه به وایې نه

***

## په علم ودان

ښکلې ځمکه ښکلی اسمان دی نن سبا
ټول جهان په علم ودان دی نن سبا

ګرځي را ګرځي سپوږمۍ په مدارونو
دا ستوری محصول د انسان دی نن سبا

شنه اسمان کې رڼه سپوږمۍ تر مریخه
دا یې کړه تسخیر لا روان دی نن سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــایســـتــه دي پـــه دنـګو دنـګو مـــاڼیـــو
پـاریس کـه لـنـدن کـه آلمـان دی نـن سـبـا

ورځ تـر بـلـې زیـاتیـږي کـشـف او اخـتـراع
هـــر مخــتــرع یـې قـــدردان دی نـن سـبـا

مـوږه کـلـه عـبــرت اخـلـو پـه دوو سـتـرګـو
افـغـان چې پرېشـان لا پرېشـان دی نـن سـبـا

تـعـلـیـم یـافـتـه د زړه پـه ویـنــو روزلـی
اجـنـــبـي وطـــن تـه روان دی نـن سـبـا

نـیـم کـه رسـي نـیـم خـوراک شـي د کـبـانـو
لـه خپل ژونـدون نـه پـه فـغـان دی نـن سـبـا

تښـتـي نـخـبـه اسـتـعـدادونـه هـره خـوا
دا څه غـافـل، غـافـل افـغـان دی نـن سـبـا

د خـدمـت شـعـور مشـرانـو دی بـایـلـلـی
هـر یـو یـې د جیـب پـه ارمـان دی نـن سـبـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــايـــلـــه د عـــمـــــــل او نـــيـــــــت ده بـاوره!
حـــال چې روان پـــه دې زمـــان دی نـن سـبـا

***

## روژه

ښـکـلـي ښـکـلـي دي اجـــرونـه پـه روژه
څـوک چـې کـــړي عـــبـادتــونـه پـه روژه

لـه عـصـيـانـه مـطـهـر لکه مـــاشوم شي
هـــا چـې ســـاتـــي انـــدامـــونـه پـه روژه

ورځ يـې تېـره پـــه نـفـلـو او تـسـبېح شي
شپـه تـراوېح کړي، لمـونځـونـه پـه روژه

لـه غـوسې او لـه ښکـنځلـو ځـان ســاتـي
مـسلـمـــان کـــوي صـــبـرونـه پـه روژه

چې پـــه عـقـــل او فـــکر يـې تېـر نـــه وي
پــــرې اوريــــږي نـعـــمـــتـونـه پـه روژه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثــواب پــه تــمــه بــه لاس پــه کـــار شي
هـــر سـخـي کــړي خـيــراتــونـه پـه روژه

ګل لـه ګل، مېوه، مېوې نه اخـلـي رنګ
اخـلــه، شـيــنـده ښـه رنـګـونـه پـه روژه

د جنــــت دروازې وي ورتـــه خـــــلاصې
د ابـلـــــيـس تـــــړي لاســونـه پـه روژه

هـــر مـومـــن د پـاک قـــرآن تـــلاوت تـــه
پـاکـــوي جــامــې، ځـــانــونـه پـه روژه

بـخــتـور خـو هـغــسـې مـسـلـمـــان دی
چې عـمـره کـــړي او حــجـونـه پـه روژه

کـــرامـــات د روژې ګـــوره بـــې شـمــېـره
نـــازل شـــــــوي آيتـــــــونـه پـه روژه

کـه لـه زړه نـه يې ځـوک نيسي دلـــبـره
عـفــوه کـــيـږي ګـــنـاهــونـه پـه روژه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غیبت او چغلي نه به ځان ساتي
اخلي، اخلي ثوابونه په روږه

یو خلوت ته وزګار شي په روژه کې
شېخان کړي اعتکافونه په روژه

چې له اجر و ثوابه پاتې نه شي
باور لیکي څو شعرونه په روژه

***

## دهقانه

ښه همت ښیه له ځانه ځار دې شم دهقانه
ښې منې کره پرېمانه ځار دې شم دهقانه

له سپېرو سپېرو میرو نه جوړ راته ګلشن کړه
سره ګلونه کړه ارزانه ځار دې شم دهقانه

شپه او ورځ په شنو، شنو کروندو کې کړې کارونه
ستا عزت کوم جانانه ځار دې شم دهقانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوڅې پښې، سپېرې جامې، سپېره سپېره لاسونه
ته یو لال یې عالیشانه ځار دې شم دهقانه

تا په هنر ځکلې د حلالې روزۍ خوند
خپه نه شې له نادانه ځار دې شم دهقانه

د باور قلم ستاینه ستا نه شي کولی
په رښتیا خوښ دی له تانه ځار دې شم دهقانه

***

## رڼا اخلم

شپه کې ګرځم رڼا اخلم
ورځ کې خوب کړمه سا اخلم

په زړښت به یې ګوزار کړم
چې زلمی وم امسا اخلم

خوند یې نشته چې رنځور یم
خو چې روغ شوم دوا اخلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـه نـوټـونـه سـر پـه سـر ږدم
چـې مُـفـلـس شـوم سـودا اخـلـم

لاس پـه سـر لـه شـنـو بـاغـو يـم
چـې سـنـګـر شـي کـــلا اخـلـم

بـاور پـــــرخــې ژړولــی
لــه سـحــــره خـــنـدا اخـلـم

***

## رنځ د جهـل

عـــابـد ژونـد کـړي د عــبادت پـه ارمـــان
جـاهـل ژونـد کـړي د خـپـل عـمـل پـه تـاوان

پــه فـــاســق اور د جـهـــنـم بـلـــيـږي
خـــاورې ايــره بــه شـي نـادان، ظـالـمــان

دانـــا ښــه دی، ســود ئـې رسـي انـســان تــه
بـد جـــاهـــل دی، رســوي نــورو تــه زيـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهلیــت، انســانیــت چې پــه کې نــه وي
تــش کــالــبــوت دی پــه څــلــورو وي روان

لــه مــرګ د ګــمــراهــانــو لــرې تښــتــه
خــپــه کــېــږه پــه مــرګــي د مسلــمـــان

خدای(ج) ورتـه ارشـاد کړی، دی غــافل دی
د دیــن لـــپــاره مــعــجـــز لـــري قـــرآن

یو دې خدای(ج) دا نادان ورک کـړي لـه منځه
بـل دې خدای(ج) خور کـړي د علم دسترخوان

آخــرت کې بـــه جــوړې څــه پلــمې کــړي
ورتــه وسپــاري پــه چــپ لاس چې فــرمـــان

رب(ج) دې ورک زمـوږ لـــه منځ کـړي باوره!
رنځ د جـهـل چې یـې ډېر کــړل نـاروغــان

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غمجن زړه

غمجن زړه وم ناقرار ژړا مې راغله
ګلشن زه وم په ګلزار ژړا مې راغله

ارمانونه مې ځوانۍ کې نیمه خوا شول
د بل وار په انتظار ژړا مې راغله

مور په خپله عقیده او کلتور وژني
ظالمان لرو اغیار ژړا مې راغله

هدیرو کې سري جنډې د شهیدانو
په قبرو کتار کتار ژړا مې راغله

افغانانو هېڅ غلامي نه وه منلې
ځیني، ځینې شول بې لار ژړا مې راغله

مسلمان به دلجویي کړله د نورو
اوس کا فخر په آزار ژړا مې راغله

یتیمان ګرځي شلېدلي ګرېوانونه
نه جامې لري نه تار ژړا مې راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل منزل ته باید و رسو باوره
ټول د حق په سمه لار ژړا مې راغله

***

## په ځمکه کې

دي په ځمکه کې پنځه لوی، لوی بحرونه
آرام، اطلس، هند او دوه ساړه قطبونه

ښایسته ښکلې ښېړۍ په کې چلیږي
دوه قطبین لري پرېمانه یخچالونه

آسیا، آفریقا، اروپا، انترکتیکا
آمریکا، استرا لیا د بردي نومونه

په پنځو وچو کې ژوند او انسانان شته
خو انترکتیکا کې نشته ولسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نــــړۍ بحـــــــــرونــه وصـــــلوي بـاوره
د ســـويـس او پـانـامــې ســـتــر کـــانـالــونـه

***

## خوارځپلی حقيقت

چې په لار د انسـان نه ځـي حيـوانيـت نه مې زړه تـوردی
بـدو چـــارو، بـدو کــــړنـــو او غـيـبـت نه مې زړه توردی

چې سود نـه ويني شـاغلی نـو سلام بـه درتـه نـه کــړي
د مـطـلـب د ســلامـونـو، رفـــاقـت نه مې زړه تـوردی

د خـپل جېب پـه ډکـولـو کې لګـيا ځـينـې مشـران دي
له فـاسد، فـاسد چـارواکي، لـه دولـت نه مې زړه توردی

ګـرځـي، ګـرځـي بې لارې چې مـوټـر، بنګله پيدا کـړي
د حـــرام، حـــرام ژونـدون او حـــلاوت نه مې زړه توردی

د رعيـت شـايسـت يې ټول کــړ، لـه يـو مخې بې وقـاره
د سخـت زړو لـــه چـــلـونـو اوحيـثـيـت نه مې زړه تـوردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قانون له مخې کار به په خپل وخت کې درته نه کېږي
د بدکارو، مامورینو له رشوت نه مې زړه توردی

د فساد جرړې خورې دي په نظام او ادارو کې
د ناولې واسطې، زور او قدرت نه مې زړه توردی

درخواستونه ناروا کړي ها دوستي، رفاقت نشته
په رښتیا د نن له چارو، قضاوت نه مې زړه توردی

د غیرت په نامه داسې چارې و شولې دلبره
په شرمونو دي شرمېدلي، غیرت نه مې زړه توردی

سپین او تور د دنیا ګۍ مو په پنځو لاسو کې ګیر دي
طبیب نشته د رنځونو، طبابت نه مې زړه توردی

په جعلي اسنادو ځي، جعلي انسان د ټولو مخکې
اصل ورک دی په دې خاوره شفافیت نه مې زړه توردی

پوهانو ګرځۍ وزګاره د ناپوه حکمراني ده
خلکو دا ډول انصاف او عدالت نه مې زړه توردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې اچوم د دهـــر پـه چوکـاټ کې نـه سميږي
د ژونـدون لـه خوارځبلي حقيقت نه مې زړه توردی

پـرې را وخېژه سپوږمۍ د څوارلسمې ننداره کـړه
دا د تـورې شپې د شکل او ظـلـمت نه مې زړه توردی

د ځــانـونـو پــه وژلـــو ســتـړي نــه شوو عـــزرايـيـلـه
ولې نه راځې قيـامته؟ له قيامت نه مې زړه توردی

کـه دا حـال، دا مـو احوال وي څه به کيږي اې باوره!
تـوبه وکړه، تـوبه ګـار شه، نـدامت نه مې زړه تـوردی

***

## کُل جهــان

کُـــل جـهـــان شـو مـــار، لـــړم
نـــه دارو لـــــــــرم نـــه دم

تـهـــذيـب غـــوارم عـــالـــمـه
پـــاک تـهـــذيـب د پـاک صـــنـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول جهــــــان ودان، ودان
پــکې ســوځـي زمـــا چـــم

پــه مــړینــه مــې خــوښــي کـــا
او پــه ســولــه مــې مـــاتــم

نــه آرام شـــــتــه دیــارکـــې
نــه پــه ځــمــکـه کــې حـــرم

د فـتـــــنـو ګـــــوزار بــاور
کــــړ بــې واکـــه او کَــــړَ م

***

## تقـدیـر

قـــبـر پـه قـــبـر جـــــنـازو سـره ژاړا کـړم
صـــبـر پـه صـــبـر هــــدیـرو ســره ژاړا کـړم

تـقـدیـر سوی پـه لـمـبـو، لـمـبـو یـم نـګـاره
د غـمـجـن زړه لـه ســرولـمـبـو ســره ژړا کـړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاران نشـتـه پـه حـجـروکې دېوال تـه ګورم
زه د ازمـــون لـــه تـصـــویـــرو ســـره ژړا کـړم

ځیرې ګـرېوان، ببـر سـري یتـیمـــان وینـم
هـــره لحـــظــه یـې لــه غـمـو ســره ژړا کـړم

کــنــډر کــنــډر چـمـو تـه سـترګـې غـړومه
ګـــړی ګـــړی ســـوو نـــارو ســـره ژړا کـړم

زه د ښـــایســـت پـــه تـمـه، تـمـه انـتـظـــار یـم
لمـــحه لمـــحه یـې ارمـــانـو ســـره ژړا کـړم

د پښـــتـون وینـــه بــه هـــدر نــه ځـي بـاوره!
زه لـه ســرو وینـو تکو ســرو ســره ژړا کـړم

***

## ناکس مُطرب

کـمـــنـد راغـــی بــې حســـاب د تــورو زلــفـو
پـه سپـیـن مـخ شولـم قـصــاب د تـورو زلـفـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناکس مُطرب نغمې به کړم خاموشه
چې مدام وهي رباب د تورو زلفو

د دلبر ښکلی تصویر به ترېنه باسم
له ورق، ورق کتاب د تورو زلفو

حوصله یې رانه وړې زړه مې خوړین دی
نور شلومه دا حجاب د تورو زلفو

د خمار نشه یې اخلمه په سترګو
زه خاته کړم په تناب د تورو زلفو

لېوني چې زاهدان په کانو ولي
دوی خوړلي دي شراب د تورو زلفو

رهايي ترې سهل کار نه دی باوره!
چې ګډ شولې په هر باب د تورو زلفو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علم

کــه دا وطـــن شـــي پـــه عـــلـــم بيـــا ودان
خوښ بـه انسـان شي، هم ځمکه هم اسمـان

کــه ورکـــړو يـــو بــل تــه چمـــبې د مينـــې
جـــوړ بـــه شـــي د ســـروګـــلـــونـــو ګـلـســـتـــان

کـــه قـــدم وړو ټـــول پـــه لاره د وحــــدت
پــوره بــه هـــالــه شــي ارمـــان د افغـــان

پــاک او نــاپــاک کــه شولــه بېـــل پــه دې کـــور
عمـــل د پــاک بــه ضـــرور شــي پــه قـــرآن

مـــخ کـــه مهــــار شـــو د ظـــالـم او جـــاهـــل
تيـــارې بــه ټـولــې، پــه عـــرفـــان شي روښـــان

ژونـدون بـــه هسک شي د رحمـــت پـوړۍ تـــه
روان بـــه دلـــتـــه شـــي د پـوهـــې کـــاروان

خـــواري غـــم بـــه وکـــړي کـــوچ لـــه وطـــنـــه
د نـــړۍ ســـيـال بـــه شـــي تـــکـــړه افغـــانـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



باوره! جګ به مو بیرغ رپیږي
افغانستان به شي نامي په جهان

***

## عینکې

کېږده عینکې د هوا په سترګو
ګوره ګردونه د صحرا په سترګو

ښکلي ښکلي به زړه ته درته راشي
بیا د ګلونو د بېدیا په سترګو

شیخ خو سپین کاڼي بیا په تورو ولي
ورته موسکی شي د خندا په سترګو

په غورړو اورم تکبیرونه مظلوم
یزید راځي د کربلا په سترګو

ظالم اخیستې خاموشي د ژوندون
ټول ورته ګورو د غوغا په سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي دواړه په خپل کور او په خپل غره کې
کوتره ښکاري د عنقا په سترګو

باوره! خوار مجنون چې صبر نه کا
خوره ده مینه د لیلیٰ په سترګو

***

## لوی جنت دی

ګالل یې محنت دی
د مور او پلار خدمت دی

اختیار د ښو سلوکو
د هر مسلم خصلت دی

چې سر ورکوي خدای(ج) ته
مقام د شهادت دی

خدمت چې د وطن کړي
ریښتینی صداقت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علم، زده کړې چارې
ژمنتوب د شریعت دی

مدد د مظلومانو
انصاف و عدالت دی

باوره! مسلم اوسه
همدغه لوی جنت دی

***

## په ځګو غرو

لکه باز په ځګو غرو ګرځم عالمه
د پرواز په سردرو ګرځم عالمه

و به نه خوري درنې هیلې آرزوګانې
په ویشتو، ویشتو، ویشتو ګرځم عالمه

هی لیلئ که له مجنون نه جلا کیږي
زه د سولې په شبو ګرځم عالمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـوک چې کـاڼـو بـانـدې ولـي تـوده میـنـه
زه د هـــغـــو پـــه ســـــــرو ګـــرځـم عـالـمه

سپـین لـه سپـین سـره لګـیږي تور لـه توره
زه د ســـپـــیـــنـــو پـــه څـــیـــرو ګـــرځـم عـالـمه

کـه ویـده یـو مـار مو چیـچـي بایـد ویښ شو
پـاړوګـــــر پـــه منـــــتـــرو ګـــرځـم عـالـمه

ژبـه، عـقـــل د ایمـــان پـه پـــرده غـواړم
زه د حـــق پـــه پـــلـــوشـــو ګـــرځـم عـالـمه

زه بـاور د قـــلـــم پـه څـوکـه لیـک کـړمـه
د شـعــــرونـــو پـــه نشـــو ګـــرځـم عـالـمه

***

## ښوونکیه

د رڼـاوو پـه اسـمـــان کـې لـکـه لمـــر ښـوونـکـیـه
د ښکلاوو پـــه جـهـــان کـې لـکـه غـــر ښـوونـکـیـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرک د پوهې دې د شمعې په لمبه بلیږي
د ځلاوو په کاروان کې سپین بشر ښوونکیه

تا له ګړنګه خېژولی اسمان ته انسان
د معناوو په عرفان کې معتبر ښوونکیه

یې راغلی په څېره د مور و پلار شاګرد ته
د صفاوو نخلستان کې ستر رهبر ښوونکیه

قدر او عزت یې په موږ فرض دی اې باوره!
د دُعاوو ګلستان کې مقرر ښوونکیه

***

## کرکټ

لوبه مې په مینه مینه تماشا کړه
څلوریزه او شپږیزه مې دُعا کړه

ماتومه حریفان په ډګرونو
بدرګه مې په چکچکو او نڅا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مې نوم به مې اوچت شي په جهان کې
د کرکټ مینې مې جوړه څه غوغا کړه

چې ډاډه شومه په جام کې د ګټلو
د اتڼ ناره مې ګرمه په سورنا کړه

زه باور د هیلو کور دُعاوې وایم
خدایه(ج) قبوله مې دُعا او وینا کړه

***

## ګډه د هیلو

لویه خدایه(ج) دا خو څرنګه جانان دی
لاس د غم یې بند زما په لوند ګرېوان دی

ما پروا د رقیب نه کړله خاونده
اوس رقیب راته په وازه خوله خندان دی

چېرته ګډه زه د خپلو هیلو یوسم
وران زړګی مې په جهان کې سرګردان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بهـــار پـــه شـنـــه مـوســـم پــاڼــه شـوه ژېــړه
زمـــا د میــــنــې بـــڼ دا رنـــګـه خـــــزان دی

پــه کې ګـــران دي نـــور هـــر څـه دلـــته بـــاوره
پــه دا وران، ویجــــار بـــازارکـې غــم ارزان دی

***

## بې نمــازه

لـــه حــــــق لارې پـــه واتـــه دي بــې نمـــازه
چې پـــراتـه تــر لمـــرخـــاتـه دي بــې نمـــازه

په غـفـلــت کـې یــې هـسـتـوګـنـه ده نــاګــاره
پــه رڼـــو ســـتـــرګـــو ویـــده دي بـې نمـــازه

ځـــان غـــړوي د لمــــانځـه لــه اداګــــانـو
پـلــــیـتـــیـوکـــې پـــاخـه دي بــې نمـــازه

پـه شـــاخـو د ونــو نــاست وهــي بـېـخـونـه
د ځـــــانـــونــو پـه لــــوېــده دي بــې نمـــازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رهــا شــي وزر نــه وهــي پــه وړانــدې
د ابلــیــس پــه دام پـــراتــه دي بې نمـــازه

پــه غـــافـــلــو بــه څــو ډولــه اوازکـــیــږي
روح لـــه تنـــه پــه خـــاتـــه دي بې نمـــازه

بېهـوده بــه تــر وخــت تېــر کــړي ارمـــانـونـه
ویـښ شــه بیــا کــلــه راتــلــه دي بې نمـــازه

د بــاور پــه خــوږ تـکـبــیــر اقـــتـداء وکــړه
تـکـبــیـرونــه یـــې خـــواږه دي بې نمـــازه

***

## پــه مــاتــم وینــم

لښـکــر پــه مـــاتــم وینـــم چــې شهــیـد شـولـو افـسـر
کـــنـډر دا مـــلـــت وینـــم چــې نــابــود یې شــو رهـــبـر

ګــام پـر ګــام لــوېـدلــې قـــافــلــه د پـرمـخـتـګ یـې
مــړ شــوی یـــې؛ چـــې چـــراغ دی د پــوهــې او هــنـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انـــــدوه پـــه ډاګ کــې د مـــــنـــزل لاره يـــې ورکـــه
د بېلــتـون غـبـشـی يـې و خـوړ، پـخـپـلـه پـه ځـيـګـر

بــې عـــلاجـه سـپـيـلـنـي چـې غـواړي هـــره شـېـبه
شـايـسـت بـانـدې يـې لـــوېـدلـی د بـد سـړي نـظـــر

د آفـــت پـــه ســـېلاب بـــه شـــي لاهــــو دا وګـــړي
بـاوره! هـرچـا چې وران کـړ مـحـراب او خـپـل مـنـبـر

***

## حـقـوق د ټول بشـر

مـــا تـــه تـــورتـــم ځـــانتـــه ســحـــر جـــوړوي
بــل کــړي خـــپـه ځـــانتـــه اخـــتـر جـــوړوي

مـوږ تـه خـــامـوشـه د اتــوم بـرېـښــنا کـــړي
خـــپـلـه اتـــوم بـــــم او لـــــېـزر جـــوړوي

کـــنـــوانـسـيـونـونـه دي بــې شـمـېـره هـلـتـه
پـــاخـــي حــقــوق د ګـــرد بـشـــــر جـــوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په نړۍ یې باداري شي منظور
فکرونه ټول په خپل نظر جوړوي

چې امیانی‌کې شرنګ ډالر ته ورکړي
نور خولا څه ملا، منبر جوړوي

حیاوې اخلي له انسان وګړو
بڅه سر لوڅې نر ببر جوړوي

وېروي دوی په اسلحو ملکونه
ځان په نړۍ کې لوی افسر جوړوي

له کومه ځایه چې خطر کړي احساس
بیا د فتنو ورته لښکر جوړوي

چې امتحان کړي په کې خپلې وسلې
د بل هېواد د جنګ ډګر جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



باوره! پاک الله(ج) به کله ورته
د مهدي توره او کلک سپر جوړوي

***

## د غره مني خبرې

که ماشومان د لوی غره مني خبرې
کوربانه داسې د وره مني خبرې

له تهذیب څخه منکر شي په بلنه
یو سپېره د بل سپېره مني خبرې

چې شي بې لارې نو سرچپه وي روان
انسانیت پرېږدي د خره مني خبرې

ظالم سور مخ د وینو ډنډ کې وي ولاړ
مظلوم مجبور وي د سره مني خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نېک صالح اولاد؛ چې پلار خپل وفات شي
باوره! هاله د تره مني خبرې

***

## رشوت خوره

مزې تا وکړې دنيا کې رشوت خوره
نظر وکړه په عقبیٰ کې رشوت خوره

څوک که يو کتاب خبرې درته وکړي
اثر نه شيندي په تا کې رشوت خوره

رښا ورځ لکه لېوه داړې ماله
سره لاسونه په بلوا کې رشوت خوره

له حرامو نه دې تاو کړې ټېټه غاړه
ته يې اخلې هر سبا کې رشوت خوره

په مجلس کې تسبېح اړوې ناصح شې
رشوتونه خورې خفا کې رشوت خوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت به تېر شي په دې پاکو او ناپاکو
ته به اوسې په غوغا کې رشوت خوره

باور سپينې، سپينې وايي په کلام کې
فکر وکړه په وينا کې رشوت خوره

***

## موري

ستا په ښکلا ده دنيا ښکلې مورې
ستا په رڼا ده فضا ښکلې مورې

تر قدمو لاندې دې وينم جنت
ستا په وينا ده، وينا ښکلې مورې

د خدای(ج) رضا ستا په رضا حصول شي
ستا په رضا ده، رضا ښکلې مورې

ما ته د مينې قدم تا را زده کړ
ته مې د ژوند يې امسا ښکلې مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــړم تـــر ابـــده ســتـا د حُســـن صـفــت
ســتـا پـه هــســتـي ده بـقـــا ښـکـلـې مـورې

ســتـا پــه عـــزت کـې د بـــاور عـــزت دی
تـا تــه هـمـېـش کـــړي دُعـــا ښـکـلـې مـورې

***

## تـعـصـب

مـونـــده کـــيـږي جـاهـل قـــام
پـــه تـعـــصـب کـې وي مـــدام

خـــيـر بـــه يـــې هـېــڅ نـــه وي
وارخـطــــا وي پـــه هـــــربـام

نـــــاروااوو تـــــــه درومــــي
د خـطـــــاوو پـــه يـــو ګــــام

بـــدمـســـتـــان وي مـغــــروره
اوبـــه خــښـي پـه غـلـط جــام

(c) ketabton.com: The Digital Library



متعـصب تــه سـود نشـتـه
عـــاقبـــت يـــې وي بـــدنـــام

د غــــرور کـــور ړنــــګـوي
بـــدکــرداره، بـــد انجـــام

رنـــځ داســــې دی بـــاوره!
انســانــان بــه کــړي نــاکـام

***

## تـورلـحـد

نــه بــه راکـــــــړې دوه لاســـونـه ژاړه ژاړه
نــه بــه وکـــــــــړې ديـــدنـونـه ژاړه ژاړه

ګـرځـېدلی پـه سپـېرو خـاورو يـم ډېـر، ډېـر
چـې پـــرتـــه ده انبـــــــارونه ژاړه ژاړه

يـو زه نــه يـــم بنـــدي شـوی تـورلـحـدکـې
بنــــدي شــوي عـــــالـــمونـه ژاړه ژاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـمــر ګــــل ؤ د خــــزان پــه لـمــبـو وســو
را بـه نــه شــي تبــــــر وخـــتـونــه ژاړه ژاړه

مُهــر د ســوال مـې پــه خــولــه دی لـګـېدلـی
خدای(ج) تـه وکــړه ښـه ســـوالــونـه ژاړه ژاړه

چې د تــږي نظـــر تنــده شي پــرې مـــاتــه
اوس مـې ګـــوره تـصــــويــرونـه ژاړه ژاړه

دا خــرپــړ مــزار مـې هـېـــر نــه کــړې بــاوره!
پــرې زرغــون کــړه ســره ګــلـونـه ژاړه ژاړه

***

## مړ لـه کـاره شوې

نــه د مــړي، ژونــدي، نــه وزګـــاره شـوې
شـپــه او ورځ لـګـيــايـې مــړ لــه کـاره شـوې

نــه دې جــوړکـــړه قـصـــرونـــه انــګـړونــه
نــه پــه ګــبـډه مــوړ، تـږی، نـهـــاره شــوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه بـــرخــه دې خـــوښـي او آرامـــي شــوه
نــه خندان، ځیګرخون، دل افګاره شـوې

هېڅ دې قـــدر دنیـــا کـې پــه چـــا نشـتـه
څـوکــه د دې خلــکـو خــدمتـګـاره شــوې

د دهـــر قـــانـون څـــرنـــګـه تـطـبیق شــو
آوېـــزان چـــې دعـــــــدل لـــه داره شــوې

در بـــــدره خـــوارو زبـــون شـــوې یـــاره
لـــه حـــــرامـــو ګـــټــو چـې انـکـاره شـوې

دا ټـــوکـــېـدلـــې ثـمـــــــره دې ورکــــړه
چې زخــمـي دکـــاڼــو لـــه ګـــوزاره شــوې

د وخـــت لـــه ســــادګـــانــو یــې بـاوره!
چې یــو پــاک الله(ج) تـــه وفـــاداره شـوې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اختـر

نـه مـې نــکــریــزي نـه مـې جــامـې شـتـه یـاره
نـه مـې رانجــه شـتـه، نـه مـې مـېلـې شـتـه یـاره

د مــورکمیـس مـې پـه سـرو سـرو وینــو رنـګ دی
نـه مې شین شال شته، نـه مې پیسې شـتـه یـاره

ســـره اورونـــه دي اوریـــږي هـــــرې خــواتـــه
نــه مــې خـنـدا شـتـه، نــه مــې جـوړې شـتـه یـاره

خــوښـي الــوتـې لـــه ســپـېـرو ســپـېـرو شـونــډو
نـه مـې پـایـزېـب شـتـه، نـه مـې ګَـرې شـتـه یـاره

یتـیـمـــان ګـــرځـي ببــــر ســـري پـــه کـــورو
نـه مې مجلس شـتـه، نـه مې حجرې شـتـه یـاره

خــوشــــالــه نــه دي د دې وطـــن وګــــړي
نـه مې کـوثـر شـتـه، نـه مې پیـالـې شـتـه یـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



باوره! داسې زموږه اختر شولو
نه هغه کلي، هغه کوڅې شته یاره

***

## وطن

وطن په موږه ګران دی، په غیرت سره یې ساتو
عالي لوړ یې نښان دی، په عزت سره یې ساتو

سمبول د آزادۍ دی، د خپلواکو هېوادونو
سرتاج د ټول جهان دی، په الفت سره یې ساتو

په سرو وینو مو ساتلی د هر یرغل په وړاندې
غازي د هر زمان دی، شجاعت سره یې ساتو

ژوندون د غلامۍ؛ خو دی افغانانو تل رد کړی
بری مو لوی ارمان دی، په همت سره یې ساتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خاوره چې مړ شوی، مړ ئې مه بولئ عالمه
باور په دا ایمان دی، په حُریت سره یې ساتو

***

## لوی سرونه

ولسونه په مېړو باندې ښه ښکاري
رقیبان سوري چړو باندې ښه ښکاري

د لویانو عزت شوی په اسلام کې
دوی مُشفقه په وړو باندې ښه ښکاري

کینه او حسد کاردی د بدبختانو
مؤمنان په سپینو زړو باندې ښه ښکاري

نړۍ ټوله په ملکونو ده وېشلې
هېوادونه په سرو باندې ښه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بـاور يـې وي د ننـګ پـه لار پوخ کـړی
لـوی سـرونـه پـه شـمـلـو بـانـدې ښه ښکاري

***

## ځوان يمه

وېـره د ســــر نــه لـــــرمـه ځـوان يـمـه
زه ولاړ غـلـــيـم تـــه پـــه مـــــيـدان يـمـه

زه لــه اور لــوګـي ســــــره لـوبېـــږمـه
نــر يـمـه، پښـتـون يـم، مـسـلـمـــان يـمـه

مـــا دی پــرځـولــی هـــر دښـمــن دلــتــه
تــوره او ډال زه د اکـــبـــرخــــــان يـمـه

مــا پــه خـپـلـه خـاوره سـر بـايـلـلـی دی
زه د شـهــــېـدانــو ســتــرکـــــاروان يـمـه

زه پــه غــيـرتــونــو ټـپـــي شــوی يــم
پــاتـې بـې مـــرهـم او بـې درمـــان يـمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د مجـــنـــون مـيـــــنـه يـم لـــيـلــیٰ پســې
شـــپـه او ورځ مـــې نـشـتـه ســـرګـــردان يـمـه

پـــل يـــې راتـــه ښـــکـــاري د شـــفـــق پـــه لار
خـــوښ بـــه شـمـه خـــيـر کـــه پـرېـشـــان يـمـه

پـــه نـنـــګ و غـيـــرت بـــانـــدې بـــاور لـــرم
زه نـنـــګـيـالـی ځـوان يـمـه، افـغـــان يـمـه

***

## پښـتـون

هـم پـه ټـوپک مـري هـم پـه دار پښـتـون
ولـې دومـــــره شـــو خـــوارو زار پښـتـون

چې شي را ټول پــه خوښــۍ يـا پـه غـم
ټـوټـه ټـوټـه شي پـه بمـــبـار پښـتـون

شـوې تـسـبـېح د ژونـــد يـــې ګـــډې وډې
چې يې کړي بندې پـه کـلـک تـار پښـتـون

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نفــــرتــونــو او خــــنـدونــو بنـــد
خـپـله په خپل لاس تار په تار پښـتون

د عـــــلـم تـــــبرې رڼـــاوې غــــواړي
ګـــــرځـي بـې ســــره او نــادار پښـتون

چې طبـيـب کــړي د رنځـونـو پيــدا
سخـت دی رنځور شوی بيمــار پښـتون

بـاوره! پـاڅــه لــــه درانــه خــــوبـه
غـــواړي د ســولـې، پـوهـې لار پښـتون

***

## کونجي

هــومـــره زور وي پـــه تيـلـي کې
چې جهــــان بـه پـرې ستـي کې

بــــې ننــګي شــي زيــــبرولــــی
کـه ننــګ نــه وي پـه ســړي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس د يو نادان لــــــه لاسه
ډېرتباه شي په بدي کې

ټول کارونه خراب بوله
چې انجام شي په تادي کې

په فکرو سره جوړېږي
وران يې وينه په خودي کې

تيندکونه خوري مَړو ته
خوشي تښتي په نېستي کې

شلوی يې نه شي له ځان نه
کمال ګوره په کونجي کې

په ډېران دی را لوی شوی
شک يې بوله آزادي کې

ولې نه رسي مقام ته
چې ماهر وي چاپلوسي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ناحقه تېرې کاندي
ناحق نه ولي تندي کې

حق تميزکولی نه شي
حق يې بوله ناداني کې

په تياره کې به خوشې کا
خفاش تښتي رڼايي کې

زمريان ويده ويده ښکاري
جوړ ګيدړ وي بېداري کې

امتيازونه سر په سر کا
مصرف باسي سر دستي کې

نن ملنګ وي سبا ګوره
ښه ممتاز وي په هستي کې

يو په سرو وينو کې لامبي
بل خوشې کړي ګډوډي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينـــې زبېـښـــې  د خـــوارانـــو
ورځ تـــر بـــلــې شي مـســتي کې

وي غـــلامــــان سـوده لـــه کــاره
بـــل مـــزې کـــا پـــه غـــلامي کې

يـــو لــــه درده تـــل کــــړيـــږي
بـــل سـود اخـلي بيـمـاري کې

بـاور مـه کـــــړه پـــرې بـــاوره
چې څـه بـــار دي پـــه وَري کې

***

## هـوښيـار وګـړي

هــوښــيـــار وګـــړي بـــه درانـــه پـاتـه شي
نـادان وګـــړي بـــه کــــــا ږه  پـاتـه شي

پـــه بېلــتـانـــه انســـان داسې لــويـيـږي
افـســوس يې ټول پـه لـړمـانـه پـاتـه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیــا بــه پــه ښـه چـم د زمـري شــي روان
کــه دا وګـــــــــړي پښـــتـانـــه پـاتـه شي

ټـول بـه يـو مـوټـی د قـوت کــړي څـرګـنـد
کـــه پـــه پـــوهـــنـــه کـې تـاوده پـاتـه شي

د فـــــريـــادونـــو لـــه درد نـــه وېـــريــږي
کـه يې وحـدت پـه ګـرېـوانـه پـاتـه شي

بـــاور کـــوربـــه دی د افـغـــان قـــامـــونـــو
چې د يـــووالـي مـېـلـمـــانـه پـاتـه شي

***

## دردونـه

يـاد د لـــيـلـۍ مــې پــه خـيـالــونـو کې راځـي
لـمـــبـه لـمـــبـه مـــې پـــه دردونــو کې راځـي

لحــظه، لحــظه د جـــدايـــي پـــه اور ســوزم
فـــريـاد او شـــور مـــې پـــه لاســونـو کې راځـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په درمـــــل د طبـيـب کـلـه رغـــيـږم
د هجــــران درد مـې پــه رګـــونـو کـې راځـي

لــيـلىٰ، لــيـلىٰ نـارې کــوم پــه غــرونـو کـې
غـبرګــون د غــږ مې پــه غــوږونــو کـې راځـي

د بـاور پـه فــريـادونـو کـې خــوب يــووړم
شـپه ســرګــردانـه پـه خـوبـونـو کې راځـي

***

## مستي د ريحــان

پـه دوسـتانـو کـې دوسـتي، د خـوبان، خوندکا
پـه ګـــلانـو کـې، مســـتي، د ريحــان، خـوندکا

لـکه تـک سپـين ستوری ښکاري پـه اسمـان کې
پــه يــارانــو کـې، يــاري، د کـــــاروان، خـوندکا

تـصــور تـــه پـــه هــيــنــداره کـې؛ ښـکـاره شـي
پـه خـوبـانـو کـې، شـوخـي، د څـــاروان، خـوندکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګـلـشـن کـې چې د ګــلـو فــرش هــوار کــړي
مـومــنـانــو کــې، پـاکـي، د ایـمـــان، خـوندکا

پســرلـی چـې پـرې لــه ورایــه ښـه ښکـاریـږي
پــه الــوانـو کــې، خـېـښـي، د الــوان، خـوندکا

د بهـــار نــاوې پــه ګـــلـو کـــړي سمـــبالــه
پـه سپـبـانو کـې، ســرخي، د مـیدان، خـوندکا

د بــاغـــونـــو د مـــنـــو وکــــیـــل بــاوره!
وزیـــرانـــو کـې، خـــواري، د جــانــان، خـوندکا

***

## درنـه ځـمـه

یـــون مـې شـــو پـــه بـلـــه درنــه ځـمــه
اې خــــوږه کـــــابـلـــه درنــه ځـمــه

مه کــوه فـــریـاد پـه ځـانګو، ځـانګو
وخ د زړه بـلـــــــبـلـه درنـه ځـمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس دی نور قفس کې هوس نه کړم
راغله سلا خپله درنه ځمه

زړه مې بند دا ستا په خورو زلفو
زانګي که سل ځله درنه ځمه

بیا پسرلی راځمه ستا خوا ته
اې د خزان ګله درنه ځمه

که څو سوزم په دردو د هجران
د سپین مخ کاکله درنه ځمه

ستا باور خو لاړه ګرندی شو
ته یې تل ترتله درنه ځمه

***

## اې زمابیرغه

اې زمابیرغه رپېږه جګو غرو باندې
تل به دې ساتمه د تن په وینو سرو باندې
اې زمابیرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره دي بـايـلـلـي زلمـو سـرونه دي ډېر
په دنګو دنګو غـرو يـې کـړي مـزلـونه دي ډېر
سـوچـو يـې خـاورې ايـره کـړي مغـزونه دي ډېر
پـه هسکو هسکو څـوکـو رپـېـږه سـرو بـانـدې
اې زمـابيـرغـه

تـه چې لـوړ يې زمـوږ پـه کې لـوړ دی پت و عـزت
سـتا هسـتي کې پـرتـه ده لـويـه نښـه د حُـريت
بې لـه تا نه لـرو مـوږ هيڅکله خوب او راحـت
لاس پـه لاس مـو وړی يـې تـل پـه سـنګرو بـانـدې
اې زمـابيـرغـه

سر زمـا خير سر ستا دې خدای(ج) نه لـري خـاورې
پښـتـون ملـت نـه دي مـنـلي د غـلامی چـارې
پـه وينـو د دښمـن لـري سـرې سـترګې خمـارې
مـړ نښـه دی، چې عَلـم نـه لـري ديـوارو بـانـدې
اې زمـابيـرغـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانه لوستونکيه اوس دې پام د يوې معمیٰ لوستلو ته را اړوم هيله ده چې په دقت سره يې ولولې، او د څه وخت لپاره خپل ذهن پرې مشغول وساتې، او مطلوب حل يې تر لاسه کړې.

## معـمـیٰ

سـرغـوڅ کـــړه د مـعــبـد، پسـې الـهـــادي کـــړه
مـل يــې کـــړه يـقـــيـن رســبــرې تـرمـطـــلــبــه

***

## پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**